لمر



سپوږمۍ



او ته به ووينې خلک چې د الله په دين کښې به
لښکر پسې لښکر ننوځي (سوره النصر)

په سپوږمۍ او لمر کښې د انساني عکس راز!
کوم چې د NASA او ډيرو نورو معتبرو ادارو
نه خپور شوے دے




# دين الاحی

دا کتاب د هر مزهب ،هري فرقې ،او د هر سړي د
پاره قابل غور او قابل تحقيق دے او د روحانيت د
منکرانو د پاره يو چيلنج دے

ليکوال

رياض احمد گوهر شاهي

حضرت رياض احمد گوهر شاهي

لیکوال د دین الاحی

وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا - سورة النصر

او ته به ووينې خلک چې د الله په دين کښې به لښکر پسې لښکر ننوځي - سورة النصر

# دين الاحي

## د الله پټ راز

د چاپ ټول حقونه خوندي دي

دا کتاب د الله د غوښتونکو او د الله سره د محبت کولو واله د پاره يوه ډالۍ ده

**د ذاکرينو د پاره اطلاع**

دا کتاب د حق پرستو منصف مزاجه خلکو او دالله تلبګارانو ته رسول دي
ازلي منافق به يې د منځه د وړلو کوشش کوي

ترتيب کونکي

محمد يونس الګوهر (لندن)          امجد ګوهر (ابوظبي)

مهدي فاؤنډيشن انټرنشنل، د امريکن صوفي انسټيټيوټ آرګنائز

جناب محمد اشفاق او جناب مظهر فيروز د مهدي فاونډيشن برطانيه شهباز احمد خان او فيصل حيات په تعاون سره
چاپ کړے دے

مهدي فاؤنډيشن انټرنشنل

Contact: amjadgohar75@yahoo.com younus380@yahoo.co.uk



دا هاغه گوهر شاهي دے چې کوم دري کاله د سيون شريف غرونو او لال باغ کښې د الله د عشق په خاطر چله کشي کړې، د الله د رضا د پاره يې دنيا پريښوده او بيا د الله په حکم په دويمه پيره دنيا ته راغلے،په ميليونو زړونو کښې يې د الله ذکر دننه کړو او خلک يې د الله مينې ته راوبلل -
هر مزهب واله گوهر شاهي ته په جوماتونو، مندرونو، گردوارو، او گرجا گرو کښې په روحاني خطاب بلنه ورکړه او ذکر قلب يې حاصل کړو، بې شميره نارينه او ښځينه د هغه د تعليماتو د لارې له خپلو گناهونو څخه توبه وکړه او الله ته په سجده شو، بې شميره لا علاجه ناروغان دهغه په روحاني علاج روغ شول، بيا الله د ده عکس په سپوږمی ښکاره کړو،

بيا حجر اسود کښې هم د ده تصوير ښکاره شو،په پوره نړۍ کښې يې مشهور تيا وشوه خو په سترگو ړندو ملايانو او د وليانو سره حسد او بغض ساتلو واله مسلمانانو دا سړے خوښ نه شو، د دوی د کتابونو په نسخو کښې يې خيانت وکړو او په دوی يې د واجب القتل فتوی ورکړي، په مانچسټر کښې يې د دوی په استوگنې د پټرولو بم وغورځولو،په کوټړی کښې يې د خطاب په دوران په دوی د گرينډ بم سره همله هم کړې وه،په ميليونو روپۍ يې د ده د سر قيمت کيښود پنځه قسمه سنگين د دروغو مقدمات په وطن کښې دننه د ده د نيولو لپاره شوي وو،د نواز شريف د وجې نه حکومت سند هم ميلاو شوي وو، دوه کيسونه ناجائز اسلحه ناجائز قبضې دفع يې هم لگولي وه، په امريکا کې هم د ښځې سره د زياتوالي او جنسي تېري مقدمه جوړه کړې وه،زيړ خبرياالانو دے په زمانه کښې خه بدنام کړو،خو په اخر کښې عدالتونو د اوريدو او څيړنو وروسته ټولي مقدمي دروغ وبللې او الله دا خپل دوست د هر مصيبت نه لري وساتلو -

د دی مقدماتو په باره کښې د هائی کورټ ريوټونه وگورئ،
گوهر شاهي د فرقه فرستئ د وجی نه پرله پسي ښکيل دے.

ORDER SHEET

IN THE HIGH COURT OF SINDH HYDERABAD CIRCUIT

Cr.B.A.No.159 of 1999. APPELLANT / PETITIONER / PLAINTIFF / DECREE HOLDER / APPLICANT

VERSUS

RESPONDENT / DEFENDENT / OPPONENT / JUDGEMENT DEBTOR

| Serial No. | Date | Order with signature of Judge |
|---|---|---|

1. FOR ORDERS ON MA NO.238/99.(If granted).
2. FOR ORDERS ON MA NO.239/99.
3. FOR ORDERS ON MA NO.240/99.
4. FOR HEARING.

18.03.1999.

Mr.Qurban Ali Choohan Advocate for the applicant
Mr.Behadur Ali Baloch A.A.G.

1. Granted.

2. Granted subject to all just exceptions.

3. Granted as the bail application No.88/99 has also been moved by the present applicant.

4. Learned counsel submits that the present bail application has been moved seeking bail before arrest of the applicant/accused with regard to his alleged involvement in crime No.18/99 for which an F.I.R. was lodged on 16.03.1999 by Police Station City at Hyderabad. It is alleged that the applicant on the day of incident viz. 19.02.1999 in the day

time produced a T.T. Pistol bearing No.BBP-13410 of 30 bore and licence bearing No.5105339 dated 04.02.1999 issued by District Magistrate Sanghar in the name of accused Mohammad Nadeem who has been nominated in crime No.10/99 pending with Police Station City Hyderabad. Thereafter upon verification by the police authorities it transpired that the said licence was a forged one and was not issued in the name of accused Mohammad Nadeem. The F.I.R. was accordingly registered against the applicant U/s.420, 468, 471 PPC read with Section 13-D Arms Ordinance.

Learned counsel submits that the lodging of the FIR is a further attempt by the political and religious foes of the applicant to have him implicated in xxx false and concocted case, as earlier attempts have failed and in two other cases the applicant was granted bail before arrest by this Court. Learned counsel submits that for all the offences above mentioned the maximum sentence is seven years along with fine and consequently do not come within the prohibitory clause of Section 497 Cr.P.C. The learned counsel vehemently argued that unless this bail application is granted and the applicant is given protection by this Court he would be immediately arrested by the police as he has been prevented from approaching the trial Court for seeking bail.

I have gone through the F.I.R. as well as the

memo of this application. In the first instance, it appears that nowhere in the FIR it is mentioned as to why the applicant/accused visited the Police Station City on 19.02.1999 along with the weapon in question and its licence. Secondly, no reasons have been given in the FIR as to why the same was lodged after almost one month of the day of incident. In the earlier bail application No.88/99 I have granted interim protective bail to the applicant on the basis that the FIR in the said case appeared to have been lodged due to enmity and jealousy between the applicant and religious sects as well as political parties. The lodging of the FIR in the present case also appears to have been motivated by the same factors.

In the circumstances, the applicant is granted pre-arrest bail in a sum of Rs.1,00,000/- in the form of security or cash and P.R. bond in the like amount to the satisfaction of Additional Registrar of this Court. Notice to A.A.G. for 24.03.1999.

5. Today I have received a pamphlet allegedly from ~~by~~ the applicant seeking justice from the Prime Minister of Pakistan regarding his persecution at the hands of various ~~xxxxx~~ religious sects and Ulemas. Alth-ough the pamphlet has not been signed by the applicant, copies have been forwarded to all High Courts of Pakistan as well as Supreme

( 5 )

Court of Pakistan and others. At the end of the pamphlet a threat has been extended to the Government that unless the applicant/accused' request is acceded to the Government will soon crumble by hidden spiritual forces. In my view if at all this pamphlet has been either issued by the applicant or his supporters and sent to this Court, it amounts to unlawfu[l] interference in the administration of justice and may be taken up as a contempt matter. In these circumstances, let a notice be issued to the applicant inviting his comments o[n] the pamphlet, a copy whereof to be sent along with the noti[ce].

SD/- SARMAD J USMANI
JUDGE

CERTIFIED TO BE TRUE COPY
22/3/99
SUPERINTENDENT

Cr.Bail Application No. 159/1999. No. 2009 Dt. 22/3/99

Copy Forwarded to the Sessions Judge Hyderabad for information and Compliance, He is informed that Surety has been furnished on behalf of the abovenamed applicant before the Additional Registrar of this Court in the Sum of Rs, 100,000/- Vide Bond No. 5823 and P.R.Bond NO. 5824 dated:- 22.3.1999.

COPY TO THE APPLICANT ABOVENAMED.

( GHULAM MUSTAFA CHANNA )
DEPUTY REGISTRAR
HIGH COURT OF SINDH CIRCUIT COURT
HYDERABAD

## ځانګړې يادونه

د دی مقدماتو د ناکامی نه پس ابليس يانو د 295 يوه بله منطقي مقدمه جوړه کړه چي ګوهر شاهي د نبوت اعلان کړے دے په دی کښې هغو ته د حکومت د اعلا تبقی ملاتړ حاصل شوے وو، تر دي چې د ګوند پخوانی ولسمشر رفيق تارړ د فرقې د وجی نه پارټي جوړه وه چې د هغي د وجی نه د ترهګری په قاضي د زور له امله سزا واورول شوه.

انشاالله هائی کورټ کښې يا سپريم کورټ کښې به د دې دروغجنی مقدمی فيصله هم کيږي.

# بسم الله الرحمن الرحیم

## پیش لفظ

په سپوږمۍ، لمر، حجر اسود، شو مندر، او نور ګڼ شمېر مقاماتو باندې هم د ګوهر شاهي د تصوير د ښکاره کېدو نه پس د اکثره مسلم او غير مسلم دا خيال او يقين دے چې دغه سړے مهدي کالکي اوتار، او مسيحا دے، چې په مختلفو ديني کتابونو کې يې ذکر راغلے دے،

راځئ تاسو هم د دوی د ازمويني کوشش وکړئ او زمونږ سره د خيرني د پاره رابطه وکړئ او د دوی د کتابونو له لارې هم د پېژندلو کوشش وکړئ.

محمد يونس الګوهر (لندن انګلينډ)
younus380@yahoo.co.uk

# مخکتنه

## از رياض احمد ګوهر شاهي

(1) چې کوم مزهبونه د آسماني کتابونو له لارې قائم شوي هغه سم دي په شرط د دی چې پکښې بدلون نه وي شوے.

(2) مزهبونه د کشتۍ او علماء د ملاح په څير وي که چيرې په يو کښې هم خرابي وي نو منزل ته تلل ګران دي،
البته اوليا ماتو شوو کشتو ته هم غاړې لګوي، دغه وجه ده چې مات ګوډ خلک د اوليا په سنګ کښې يو ځاي کيږي.

(3) د مزهب نه غوره د الله محبت دے چې کوم د ټولو مزهبونو مغز دے، او د الله نُور د لارې رڼا ده.

(4) درې حصې د علم ظاهر دي او يوه حصه د علم باطن ده، چې (د خضر او وشنو مهاراج) له خوا خپره شوه.
د الله سره مينه د الله د نزدېوالي برخه ده چې په کوم زړه کښې الله نشته سپے د هغه نه غوره دے، ځکه چې هغه د خپل مالک سره مينه کوي، او د مينې له امله د خپل مالک قرب ولرې ګني چرته يو پليت سپے او چرته حضرت انسان.

(5) که چېرې ته جنت او حور و قصور غواړې نو ښه عبادت وکړه ځکه چې تاته د اوچت نه اوچت جنت ميلاو شي.

(6) که چيرې ته د الله په لټون کښې يې نو روحانيت هم زدکړه، ځکه چې ته په صراط مستقيم قدم واخلې او د الله د وصال پورې ورسيږې.

# انسان دازل نه تر ابده پورې

چې کله الله د روحونو جوړول وغوښتل نو وه یې ویل کُن نو بې شمیره روحونه جوړ شول الله ته مخامخ نزدې روحونه د نبیانو، بیا دویم صف کښې د ولیانو، بیا دریم صف کښې د مومینانو، بیا د دی نه شاته د عام انسانانو، بیا د نظر نه ډېر لرې صف کښې د ښځو روحونه جوړ شول، بیا د دوی نه شاته روح حیواني، بیا روح نباتي، او بیا داسي روح جمادي چې په هغې کښ د خوځیدو را خوځیدو طاقت هم نه وو، رابنکاره شو، د الله خی اړخ ته د پرښتو او بیا د هغې نه پس د حورو روحونه وو، چې د الله مخ یې نه شو لیدلے، دغه وجه ده چې پرښتې د رب دیدار نه شي کولے، بیا شاته د نُوري موئکلات روحونه چې دنیا ته راغلل د نبیانو ولیانو مدد گار شو' بیا گس اړخ ته د جناتو روحونه، بیا شاته سفلي موئکلات بیا د خبیثو روحونه چې دنیا ته راغلل او د ابلیس مددگار شو،خی او گس د نظر نه ډېر لرې روحونو د رب جلوه ونه لیدل، دغه وجه ده چې، جنات، پرښتې، او ښځې د رب سره حم کلام کیدلے شي خو دیدار نه شي کولے، په کُره ارض کښې د وور یوه گوله وه، حکم وشو، چې یخه شه بیا د دی ټوټې په فضا کښې خوري شوي، سپوږمی، مریخ، مشتري، دا دنیا، او ستوري ټول د دی ټوټې دي، او لمر دغه یو شان گوله ده دا زمکه خاوره خاوره جوړه شوه،جمادي روحونه یې ښکته راولیږل چې د هغې له امله دا خاوره کلکه شوه او کاڼي شو، بیا یې نباتې روحونه راولیږل چې د هغې له امله په کاڼو کښې ونې هم راوټوکېدې، بیا د حیواني روحونو له امله ځناور رابنکاره شو، الله د ټولو روحونو نه دا تپوس هم کړے وو، ولې زه ستاسو رب نه یم، ټولو اقرار کړے او سجده یې هم کړې وه یعنې د کاڼو او ونو روحونو هم سجده کړي وه، (والنجم والشجر یسجدان) سورة الرحمن، بیا الله تعالیٰ د روحونو د امتحان د پاره مصنوعي دنیا مصنوعي لزّات جوړ کړل او ویل یې، که چرې څوک د دی طلبگار وي نو واخلئ. بې شمیره روحونو د الله نه مخ واړو او دنیا اړخ ته یې مخ کړو، او دوزخ یې د هغوي په تقدیر کښې ولیکلو، بیا الله د جنت نظاره وخوله چې د ړومبي حالت نه غوره او اطاعت او بندگئ واله وه گڼ شمېر روحونو دلته مخه کړه د دوی په تقدیر کښې یې جنت ولیکلو. او ډېرو روحونو حس فیصله ونکړه هغوی یې بیا د رحمان او شیطان تر مینځ کړه هغه روحونه دنیا ته راغلل او په مینځ کښې ونښته بیا چې د چا په لاس ورغله د هغه شو، ډېرو روحونو د الله جلوی ته کتل نه د دنیا او نه د جنت طلب د الله د هغوي سره مینه او د هغوي د الله سره مینه شوه، دغه روحونه چې دنیا ته راغلل د الله د خاطر یې دنیا پرېښوده او ځنگلونو کښې یې اوسیدل خوښ کړه، د روحونو د ضرورت او د زړه د لگیدو د پاره یې اتلس زره قسم مخلوق شپږ زره په وبو کښې شپږ زره په وچه کښې او شپږ زره هوایي او اسماني یې پیدا کړي، بیا الله اووه رنگه جنتونه او اووه رنگه دوزخونه جوړ کړل.

## د جنتونو نومونه

1) خلد ، 2) دارالسلام ، 3) دا رالقرار ، 4) عدن ، 5) الماویٰ ، 6) نعیم ، 7) فردوس

## د دوزخونو نومونه

1) سقر ، 2) سعیر، 3) نطیٰ ، 4) حطمه ، 5) جحیم ، 6) جهنم ، 7) هاویه

پورتني تړول نومونه په سُریانئ ژبه کښې دی هغه ژبه په کومه کښې چي الله د پرښتو سره مخاطب کیږي، د ټولو مزهبونو عقیده ده چې څوک الله وغواړي دوزخ ته چې څوک وغواړي جنت ته يې ولیږي، که چرې د هغه ځای نه يې یو روح دوزخ ته لیږلو نو هغه به اعتراض کوو چې ما کوم جرم کړے دے، الله به ویل تا ځما د اړخ نه مخ اړولے دنیا دي هغستي وه، روح به ویل هغه خو ما په نادانئ کښې اقرار کړے وو، عمل خو مي نه د ے کړے، بیا يې د دی حُجت د پوره کولو دپاره روحونه ښکته دي دنیا ته راولیږل، آدم کوم ته چې (شنکر جی) هم وایي د جنت د خاورې نه يې د ده وجود جوړ کړو د انساني روح نه علاوه نور مخلوق يې هم په ده کښې کیښود، چې کله د آدم وجود جوړیدو نو شیطان د حسد د وجی لاړي توکړې چې د نامه په ځاي پریوتي او د دی لاړو جراثیم هم په دی وجود کښې شامل شوي وو، شیطان د جناتو د قوم څخه دے، په یو حدیث کښې دي چې کله انسان پیدا کیږي نو د ده سره یو جن هم پیدا کیږي وجود خو تش د خاورې کور وو، په دی کښې يې دننه شپاړس مخلوقات هم بند کړي، دی سره خناس او ځلور مرغی هم دي، د آدم د گس پتون نه ښځې په شکل کښې مواد راوتل په دی کښې يې روح واچو چي هغه هوا بي بي شوه، بیا يې د جنت نه راویستل آدم يې په سرېلنکا کښې او هوا يې په جده کښې راکوزه کړه، چې د هغي د لارې د ایشیا د خلکو د زیږون لړی راوانه شوه، او د آسمان نه پاتې روحونه هم په ورو ورو راتلل شروع شو، د روحونو د خوني او روزنې د پاره يې مدارس جوړ کړل او د ازل ورځې د تقدیر په مناسبت سره څوک په یو مزهب کښې څوک په بل مزهب او زنی بي مزهبه پاتې شو د الله مینه ناک روحونه هم دنیا ته راغلل څوک د مسلمان په کور کښې، څوک د هندو په کور کښې، څوک د سیکانو په کور کښې، او څوک د عیسایانو په کور کښې وزیږیدل، او د خپل مزهب د لارې يې د الله د حاصلولو کوششونه شروع کړل، دغه وجه ده چې د هر مزهب خاص بنده رحبانیت خپل کړو، څه خلک وايي چې په اسلام کښې رحبانیت نشته دا عقیده غلته ده، حضور پاک به هم غار حرا ته تلو، شیخ عبدالقادر جیلاني، خواجه معین الدین امیري، داتا علي هجو یری،بری امام، بابا فرید، شهباز قلندر، او نورو هم د رحبانیت نه پس ډیر لوی مقام حاصل کړے او د دوی د لارې د دین اشاعت شوے.

# په دنیاکښې د انسان بنسټ

په خیته کښې د انسان د سپرم نه وروسته د ویني د یو ځای کیدو د پاره روح جمادي راځي ،بیا د روح نباتي د لارې ماشوم په خیته کښې غټیږي، څلور میاشتې پس روح حیواني وجود ته دننه کوي چې د هغې د لارې ماشوم په خیته کښې حرکت کوي، دی ته ارضي ارواح وایي، بیا د زیږون نه پس د انسان روح د نورو مخلوقاتو سره راځي دي ته سماوي ارواح وایي، که چرې ماشوم د زیږون نه مخکې په خیته کښې مړ شي نو د ده جنازه نه کیږي ځکه چې دا حیوان وو، که د زیږون نه لږ ساعت پس مړ شي نو جنازه یې پکار ده، ځکه چې هغه د انساني د روح د لارې انسان جوړ شوے وو او نفس یې هم د نامه په ځاي د خپلو ملګرو سره دیره لګولي وه، که چرې په دی جمادي روح زوررور وي نو دا په غرونو کښې اوسیدل خوښوي، د روح نباتي د لارې انسان د ګلونو او بوټو سره مینه ساتي، د روح حیواني د غلبې سره د ځناورو سره مینه او د ځناورو په شان کارونه کوي، او د نفس شکل د سپي په شان وي چې د دی د شدت له امله د سپو په شان کارونه او د سپو سره مینه ساتي، او د قلب د راویښولو سره انسان د پرښتو په شان جوړیږي، د انسان د مرګ نه پس سماوي روحونه آسمانونو ته لاړ شي چې د یو وجود د پاره مخصوص دي، ارضي روحونه په دی دنیا کښې پاتې شي، ارضي روحونه د یو وجود نه بل وجود ته منتقل کیږې، ځکه چې د دوی د ورځ د قیامت سره واسطه نشته، خو پاک شوے نفس په قبر کښې پاتې شي او خلکو ته فیض رسوي، او پخپله هم عبادت کوي، لکه څنګه چې په شب معراج کښې حضور پاک د موسیٰ د قبر نه تیر شو نو وه یې لیدل چې موسیٰ په قبر کښې مونځ کوي، چې کله آسمانونو ته ورسیدو نو وه یې لیدل چې موسیٰ هلته هم موجود دے، د بدکاره خلکو زوررور نفس دخپل ځان د بچکیدو د پاره د شیطانانو د ټولګي سره میلاویږی او د خلقو په وجود کښې ننوځي او خلکو ته زرر رسوي، دی ته بدکاره روحونه وایي،په انجیل کښې راغلي چې عیسیٰ به بدکاره روحونه راویستل، ارضي روحونه او نفسونه په دی دنیا کښې، روح انساني عالم علیین یا سجین کښې او که چرې لطائف زوررور یې نو هغه هم په علیین کښې ګني په قبر کښې بیکاره شي، د نفس د لارې انسان نا پاک شو،

په وینا د بُلے شاه : دی نفس پلیت زه پلیت کړم، ګني په ازل کښې خو زه پلیت نه وومه

د نفس د پاکولو دپاره کتابتونه نازل شوی، نبیان ولیان راغلل څه ځای یې د دوزخ ویرول څه ځای یې د جنت لالچ ورکړو ـ د مشقت، عبادت، او روژو د لارې د ده د سمولو کوشش وکړو او د جنت حقدار هم شو او ډیرو خلکو د باطني علم د لارې پاک کړو او د الله دوستان جوړ شو

# د نفس تزکره

دا شیطاني جرثومه ده، د نامه سره د ده کور د ے، ټولو نبیانو ولیانو یې د شر نه پنا غوښتي ده، د ده خوراک فاسفورس او بدبو ده چې کوم په هډوکو، کوئله او سوټو کښې هم وي، هر مزهب د جنابت نه پس په غسل زور ورکړے دے، ځکه چې د جنابت بدبو په مسامونو وځي بدبودار قسم مشروبات او بدبودار قسم د ځناورو غوښه یې هم ممنوع کړې ده، دازل په ورځ الله ته مخامخ ټولو روحونو د جمادي پورې د یو بل سره اشنا او متحد شوي وو، د روح جمادي د وجی نه انسان د کانو کورونه جوړکړل، او د روح نباتی له امله یې د ونو د لرګو نه چتونه جوړ کړل او د ونو د سیوري نه هم مستفیض شو، ونو دوی ته پاک صفا اکسیجن ورسو، شاتني حیواني روحونه چې دنیا ته راغلل ځناور تري

تري جوړ شو، د ټولو انسانانو د پاره يې حلال وګرځول، او د دی متعلق يې مارغان هم حلال وګرځول، ګس اړخ ته جنات او سفلي موئکلات جوړ شو، بیا د هغو نه شاته اړخ ته خبیث روحونه چې په اخر کښې د الله دښمنان شول، او هاغه حیواني، نباتي او جمادي روحونه چې کوم د خبیثو نه شاته ښکاره شوي وو، دوی د انسانانو سره دښمني کړې، د روح جمادي دنیا ته په راتلو سره خاوره کوئله جوړه شوه چې د هغي ګیس د انسانانو د پاره نقصان مند وو، د هغي روح نباتي نه خطر ناک د غنو په شان او آدم خور رقم وني په وجود کښې راغلې، او د هغي حیواني روحونو نه آدم خور او وحشي غوندي ځناور پیدا شو او د هغي په شان مارغان هم د دی انساني دښمنی د وجی حرام اعلان کړه، چې د هغي پيژندل دادی چې هغه په پنجو غزا نیسي او خوری يې، ښئ اړخ واله روحونه يې د انسان خادمان، پیغام رسونکي، او مددګار جوړ کړل، او انسان ته يې د ټولو نه زيات فضيلت عطاء کړو او خپل خليفه يې مقرر کړو وس د انسان مرضی محنت او قسمت دے چې خلافت منظور کوي او که رد کوي يې، نفس په خوب کښې د وجود نه بهر وځي او د دی بنده په شکل کښې د جناتو په شیطاني محفلونو کښې ګرځي، د نفس سره خنّاس هم وي چې د هغي شکل د هاتی په شان وی او دا د نفس او قلب په مابين کښې ناست وي د انسان د ګمراه کولو دپاره مدد کوي، د دی نه علاوه هغه څلور مرغۍ هم د انسان د ګمراه کولو دپاره د څلورو لطائفو سره نښتې وي، لکه څنګه چې د قلب سره چرګ د دی له وجې په قلب د شهوت غلبه وي، د قلب د ذکر د وجی هغه چرګ بسمل چرګ جوړ شي او د حرام او حلال تمیز پکې پیدا شي بیا دی قلب ته قلب سلیم وايي، د سری سره کارغه د کارغه د وجی نه حرص، او د خفی سره طاؤس د طاؤس د وجی نه حسد، او د اخفیٰ سره کونتره د کونتری د وجی نه بخل راځي، او د هغوي خصلتونه لطائف په حرص او حسد مجبور کړي، چې تر کومې پورې لطائف منور نه شي، د ابراهيم عليه السلام د وجود نه يې هم دا څلور مرغۍ اوباسلي وي، د پاکیدو نه پس يې بیا وجود کښې کیښودلي، د مرګ نه پس د پاکو خلکو دا مرغۍ په ونو کښې اوسیدل شروع کړي، ډېر خلک په ځنګلونو کښې يو څو ورځې پاتې شي بیا د مرغو په شان اوازونه اوباسي، او دا مرغۍ د دوی سره اشنا شي او د دوی په وړو وړو علاجونو کښې مددګاری شي جوړی شي.

## يوه مهمه نقطه

د نفس تعلق د شیطان سره دے

د سيني د پنځو لطا ئفو تعلق د پنځو رسولانو سره دے ' د انا تعلق د الله سره دے

دغسې د دی وجود تعلق د کامل مرشد سره دے

او هر هاغه مخلوق چې د دی نسبت نه خالي دے، هغه د دی نعمت نه محرومه او بي برخي دے.

# د قلب لطیفه

د غوښي ټوټې ته په پښتو کښې زړه او په عربی کښې ورته فواد ویلے شي او دی مخلوق ته چې کوم د زړه سره دے قلب ورته وایي، د دی نبوت او علم آدم علیه السلام ته میلاو شوے وو، په حدیث کښې دي چې په زړه او قلب کښې توپیر دے، دی دنیا ته ناسوت وایي، د دی نه علاوه نور جهانونه هم دي یعنې ملکوتي، عنکبوت، جبروت، لاهوت، وحدت، او احدیت، دا په مقام ناسوت کښې د ګولي د چاودني نه مخکښې وو او د دي مخلوقات هم د اول نه موجود وو، پرښتې د روحونو سره جوړی شوي، خو ملائک او لطائف د اول نه په دی مقاماتو موجود وو، بیا په عالم ناسوت کښې هم په زینو سیارو دنیا آباده شوه، څوک ختم شو او څوک منتظر دي، دا مخلوق یعنې لطائف او ملائکي د روحونو د امرکن نه یې اویا زره کاله مخکښې جوړي کړي وي، او د دی نه یې قلب په مقام محبت کښې کیښود، او د دی له لارې د انسان رابطه د الله سره جوړیږي. د الله او د بنده تر مینځ دا د ټیلیفون آپریټر حیثیت لري، په انسان باندې دلیلونه او الهامونه د دی په وجه راځي، او د لطائفو عبادت هم د دی په وجه عرش بالا ته رسیږي خو دا مخلوق پخپله د ملکوت نه مخکښې نه شي تللے د دي مقام خلد دے، د دی عبادت هم دننه او تسبیح هم د انسان په ډانچه کښې دي، د دي د عبادت نه علاوه څومره خلک چې هم دي افسوس به کوي، ځکه چې الله فرمایلي دي چې ولې د دي خلکو دا خیال دے چې زه به دوی د نیکانو په صف کښې شمار کړم؟، وجودي عبادتونه د مرګ نه پس ختمیږي، چې د چا قلب او لطائف د الله د نُور سره طاقتور نه وي نو هغه به په قبرونو کښې په یو حالت وي یا به ختم شي، خو منور او طاقتور لطائف به مقام علیین ته لاړ شي، د قیامت نه پس چې کله دویم وجودونه درکړے شي دا لطائف به هم د انساني روح سره د دیدار واله لاپاني ولیانو په وجود کښې داخل شي چې هغوی دوی ته په دنیا کښې الله الله زدکړے وو هلته به هم الله الله کوي او هلته چې لاړ شي نو هم به د دوی مرتبې زیاتیږي او چې کوم دلته په زړه ړانده وو، هغه به هلته هم ړانده وي، ځکه چې میدان عمل دا دنیا وه، او هغه به په یو ځاې اوسیږي، د عیسایانو او یهودیانو نه علاوه هندو مزهب هم د دی لطائفو قائل دے، هندوان دي ته شکتیا او مسلمان لطائف وایي، قلب د زړه ښی اړخ ته په دوه اینچ فاصله کښې وی، د دي مخلوق رنګ زیړ دے، د دی په راویښولو سره انسان زیړه رڼا په خپلو سترګو کښې محسوس کوي، بلکې زني عامل حضرات د دی لطائفو د رنګونو نه د خلقو علاج هم کوي، اکثره خلک د خپل زړه خبره برحق ګني، که چرې واقعي زړونه ریښتیا دي نو ټول زړونو واله ریښتوني ولي نه دي؟، د عام سړي قلب صنوبر وي، چې د هغي څه پوهه موهه نه وي، د نفس او خناس د غلبې یا د خپل ساده فن ده وجې غلطه فیصله هم کوي، په قلب صنوبر باندې اعتماد ناداني ده، چې کله په دی زړه کښې د الله ذکر روان شي بیا په دی کښې د نیکۍ او بدۍ تمیز او پوهه راځي، دی ته قلب سلیم وایي، بیا د ذکر په کثرت سره د دی روخ رب اړخ ته شي دی ته قلب منیب وایي، دا زړه د بدو نه منع کولے شي خو دا صحیح فیصله نه شي کولے، بیا چې د الله تعالیٰ تجلیات په دی زړه پریوتل شروع شي نودی ته قلب شهید وایي، حدیث: په مات زړه او په مات قبر د الله رحمت وریږي، په هغې وخت کښې چې هرسه وایی او منه یې، ځکه چې د تجلی سره نفس هم مطمئن شي او الله حبل الورید شي، بیا الله وایي چې زه دهغه ژبه جوړیږم په څه چې دا خبرې کوي، او څه د هغه لاس جوړیږم په څه چې دا نیول کوي.

## د انسان روح

(د دی نبوت او علم ابراهیم علیه السلام ته میلاو شوے وو)

دا ښی سینې ته نزدې وي، د ذکر د ضربونو او تصور سره راویښیدلے شي بیا دلته هم درزا پیدا شي د دی سره، ذکر، یاهو میلاویږی، بیا په انسان کښې دننه دوه بندیان ذکر کول شروع کړي، او د ده مرتبه د قلب واله نه لویه شي ،د روح رنګ سور وي ، او د دی د راویښولو سره د جبروت پورې چې کوم، مقام جبرائیل دے، رسایي وشي، غضب او غوسه د ده ګاوندې وي چې وسوځي نو جلال شي.

## لطیفه سری

(د دی نبوت او علم موسیٰ علیه السلام ته میلاو شوے وو)

دا مخلوق د سیني په مینځ د ګسي سیني په خوا کښې وی دا هم د، یاحي یاقیوم،د ضربونو او تصور سره را ویښیدلے شي، د دي رنګ سپین وي، په خوب یا مراقبه کښې د لاهوت پورې رسېږي، وس درې مخلوقات ذکر کوي، او د دی درجه د هغي دوو نه غټه شوه.

## لطیفه خفی

(د دی نبوت او علم عیسیٰ ته میلاو وو)

دا د سینی د مینځ نه د ښی سیني په مینځ کښې وي دی ته هم د ضربونو په ضریعه، یا واحد، خودلے شي د دی رنګ شین دےاو د دی رسائی د مقام وحدت پورې ده،وس د څلورو بندیانو د عبادت درجه نوره هم لویه شوه.

## لطیفه اخفیٰ

(د دی نبوت او علم حضور پاک ته میلاو وو)

دا مخلوق د سیني په مینځ کښې دے د، یا احد، ذکر د دی دپاره وسیله دے، د دی رنګ ارغواني دے د دی تعلق هم د مقام وحدت د هغي پردې سره دے چې د کومې نه شاته چې د الله تخت دے. د پنځو لطائفو علم هم پنځو نبیانو ته په ترتیب حاصل شوے وو، او د هري لطیفي نیم علم د نبیانو نه ولیانو ته ورسېدو، دغسې د دی لس حصی جوړې شوي بیا د ولیانو نه، خاص، خلک د دی نه مستفیض شو، خو ظاهري علم، ظاهري وجود، ظاهري ژبه د ناسوت او نفسونو سره تعلق لري، دا د عامو خلکو دپاره دي او د دی علم په ظاهري کتاب کښې دے چې د کومې دیرش حصی دي، علم باطن هم د وحي په زریعه په نبیانو نازل شوے، د دی وجې نه دي ته هم باطني قرآن وایي، د قرآن ډېر صورتونه به یې بیا منسوخ کول، د دی وجه دغه وه چې کله نا کله به د حضور پاک د ژبې نه په عامو خلکو کښې ادا کیده کوم چې د خاصو دپاره وو، بیا دا علم سینه په سینه په ولیانو کښې چلیدو او وس د کتب په ذریعه عام شو.

## لطيفه انا

دا مخلوق په سر کښې وي، بې رنګه دے د ياهو ذکر د دې معراج دے، او دغه مخلوق چې طاقتور شي نو د الله په وړاندې بې پرده همکلام شي، دا د عاشقانو مقام دے، د دې نه علاوه زنې خواصو ته د الله د اړخه نور مخلوقات هم عطا کيږي، چې کوم ته طفل نُورى، يا جُسه توفيق الاحى ،وايي، بيا د دې مرتبه د پوهې نه بهر ده،

د لطيفه أنا د لأرى ديدار په خوب کښې کيږي،

د جُسه توفيق الاحى د لارې د رب ديدار په مراقبه کښې کيږي،

او طفل نُورى واله ديدار په هوش او هواس کښې کيږي

دغه بيا په دنيا کښې قدرت الله بللے شي، که وغواړي ځوک د عبادت، رياضت، اا و که وغواړي څوک په نظر مقام محمود ته ورسوي، د دوى په نظرونو کښې که مسلم، که کافر، که ژوندي، که مړه، ټول برابر وي، لکه څنګه چې د غوث پاک په يو نظر غل قطب جوړ شوے وو، يا ابوبکر حوارى، منګا ډاکو هم د دې خلکو د نظر سره پيران جوړ شوي وو، پنځو مرسلينو ته يې جلا جلا علم ورکړو، چې د هغې د وجې نه په روحانيت کښې ترقي وشوه، چې کومه يوه لطيفه ذکر کوي هغه به دهغې متعلق مرسل سره د فيض او تعلق حقداره شي، او چې په کومه لطيفه تجلي پريوځي د هغې ولايت به د هغې نبي په نقش قدم وي، او وو آسمانونو ته رسيدل او په او وو جنتونو کښې د مراعاتو حاصلول هم د دې لطائفو نه وي.

## د انسان په وجود کښې د دى لطائفوکار

لطيفه اخفىٰ:

د دې په وجه انسان خبرې کوي، ګنې د ژبې جوړيدو باوجود هغه ګونګے دے. په انسانانو او ځناورو کښې توپير د دى لطا ئفو دے د زيږون په وخت کښې که چرې اخفىٰ د څه وجې نه په وجود کښې دننه نه شي، نو هغه وجود ته راغوښتل هم د يو وابسته نبي کار وو بيا به ګونګې خبرې کول شروع کړل.

لطيفه سرى :

د دى له امله انسان ليدل کوي د دى په وجود کښې د نه راتلو سره انسان پيدائشي ړوند وي، د دى واپس کول هم د وابسته نبي کار وو چې دهغې سره به ړوند هم ليدل شروع کړل.

## لطیفه قلب:

د دی په وجود کښې د نشتوالي د وجی انسان بلکل د ځناورو په شان د رب سره ناآشنا، لرې، بې شوقه، بې کیفه وي د دی واپس کول هم د نبیانو کار وو، او د هغي نبیانو معجزات، د کراماتو په صورت کښې ولیانو ته هم عطا ء شو چې د هغي د لارې فاسق او فاجر هم الله ته ورسیده، که دهر نبي یا ولی په وجه د یوې وابسته لطیفي واپس کول وو نو گنگیان، راندہ، او کاڼه به هم شفایاب کیدل.

## لطیفه انا :

د دی په وجود کښې د نه راتلو سره انسان لیونے بللے کیږي، بې شکه که د دماغو رگ رگ کار کوي.

## لطیفه خفی:

د دی د نه راتلو سره انسان کوڼ وي که د غوږونو سوري یې کولاو هم کړې، د وجودي زیان سره هم دا حالتونه پیدا کیدلے شي چې د علاج قابل وي  خو د مخلوقاتو د ورکیدو حِس علاج نشته، چې تر کومې پورې د نبي یا ولی حمایت حاصل نه وي.

## لطیفه نفس :

د دی د وجی د انسان زړه په دنیا کښې، او د لطیفه قلب په زریعه د انسان روخ د الله اړخ ته تاویږي.

سُرياني ژبه چې په آسمانونو ويلے شي پرېښتې او رب په دی ژبې سره مخاطب وي، په جنت کښې آدم صفی الله هم دغه ژبه ويله، بيا چې کله آدم صفی الله او هوا بي بي دنيا ته راغلل نو په عرب ستان کښې آباد شول، د هغوي اولاد به هم دغه ژبه ويله، بيا د آل په دنيا کښې د خوريدو د وجی نه دا ژبه په عربي ، فارسي، لاتيني نه په وتلو کښې انګريزي ته ورسېده، او الله يې په مختلفو ژبو کښې جدا جدا ياد کړو، د آدم په عربو کښې د اوسيدو د وجی نه په عربئ کښې ډېر لفظونه موجود دي، لکه څنګه چې يې آدم صفی الله په نوم سره ياد کړے وو، څوک يې د نوح نبي الله، څوک يې د ابراهيم خليل الله، بيا موسیٰ کليم الله، عيسیٰ روح الله او محمد الرسول الله په نامه سره يې ياد کړي وو، دا ټولې کلمې په سُريانئ ژبه کښې په لوح محفوظ باندې د دی نبيانو د راتلو نه مخکې درج وي، ځکه حضور پاک فرمايلې وو چې زه دي دنيا ته د راتلو نه مخکې هم نبي وومه.

د زينو خلکو دا خيال دے چې لفظ الله د مسلمانانو کيښودے شوے نوم دے خو داسې چرې هم نه ده.

د حضرت محمد الرسول الله د پلار نوم عبدالله وو او په دی وخت کښې اسلام نه وو، او د اسلام نه مخکې هم د هر نبي د کلمې سره الله ياد شوے چې کله يې روح جوړ کړو نو د ده په ژبه ړومبنے لفظ الله وو، او چې کله بيا روح د ادم په وجود کښې داخل شو نو يا الله يې ويلو او داخل شوے وو، ډېر مزهبونه دا رمز حق وګڼي او دالله د نوم ذکر کوي، او ډېر د شک د وجی د دی نه محرومه دي، چې کوم نوم هم د الله اړخ ته اشاره کوي د تعظيم قابل دے، يعني د الله په لوري راځي خو د الله د نومونو د اثر نه خواره واره شول، حروف ابجد، او حروف تهجي د لارې هر لفظ جدا وي دا هم يو آسماني علم دے، او د دی هندسو تعلق د ټول مخلوق سره دے، زنی وخت دا هندسې د ستورو د حساب نه د يوبل سره جوړښت نه لري، چې د هغې له وجې انسان خفه وي، ډېر خلک د دی علم د کارپوهانو سره د ستورو د حساب نه نقشه جوړه کړې او نامه کيږدي، لکه څنګه چې ابجد (ا، ب، ج، د،) (۱،۲،۳،٤) نه لس عدد جوړيږي دغسې د هر نوم جدا اعداد وي، چې کله د الله رنګ په رنګ نومونه کيښودے شو نو د ابجد د حساب نه د ټکراو سبب جوړ شو، که چرې ټولو په يو نوم سره رب يادولو نو مزهبونه به د جدا کيدو باوجود دننه يو وو، بيا به د ګرونانک صيب او بابا فريد په شان دغه ويلے کيده چې.

چې ټول روحونه د اللہ د نُور نه جوړ دي خو د دوی چاپيرچل او ګاونډ جدا دے.

چې کومې پريښتې په دنيا کښې په کار لګوي دوی ته دنياوي ژبې هم ور ښايي، د اُمتيانو دپاره لازمه ده چې د خپل نبي کلمه چې د نبي په زمانه کښې د اُمت پيژندنې، فيض او پاکوالي دپاره د رب د اړخه عطا شوي وه، دغسې په دغه ژبه ويل کوی، هر چا له په هر مزهب کښې د راتلو د پاره دا کلمې شرط دی، لکه څنګه چې د نکاح په وخت کښې د ژبې اقرا شرط دے، په جنت کښې د ننوتلو دپاره يې هم دا کلمې شرط ګرځولې دي، خو په مغربي هيوادونو کښې زياتره مسلمانان، عيسايان د خپلې مزهبي کلمې تر دي چې د خپل نبي د اصل نوم نه هم بې خبر دي، په ژبه کلمې واله د اعمال صالح محتاج، کلمه نه ويلو واله د جنت نه بهر، او چې د چا په زړونو کښې کلمه دننه شوي وه هغه به بغير له حسابه جنت ته ځي، آسماني کتابونه چې په کومه ژبه کښې هم اصلي دي، هغه رب ته د تلو سر چينه ده، خو چې کله په دی متنونو او ژباړو کښې ګډون وشو لکه څنګه چې ګډون شوي وړه د معدې د پاره تاوان وي دغسې په کتابونو کښې ګډون د دين دپاره تاوان جوړ شوے دے، او يو د نبی دين واله په څومره ډلو کښې جدا شو، د صراطِ مستقيم دپاره لازمه ده چې ته د نُور نه هم هدايت واخلې.

# د نُور ده جوړولو طريقه

په پخوانۍ زمانه کښې به يې د کانړو د مړلو سره اوور لګولو، او د وسپنې د مړلو سره به هم سپرغۍ اوچتې دي، د اوبو سره يې اوبه ټکراو کړې نو بجلۍ جوړه شوه، دغسې په انسان کښې دننه د وينې د ټکراو يعنې د زړه درزارې سره هم بجلۍ جوړيږي، د هر انسان په وجود کښې خواو شاه يو نيم واټ بجلۍ شته دے چې د هغې د لارې حرکت کوي، په بوډا والي کښې د درزا رفتار د ورو کيدو د وجې په بجلۍ کښې هم او روغتيا کښې هم کمې راځي، د ټولو نه مخکې د زړه درزا زياتول پکار وي، څوک د ډانس د لارې، څوک د کبډې يا ورزش د لارې عمل کوي، چې کله د زړه په درزارۍ کښې زيات والے راشي، بيا د هر درزا سره الله الله يا د يو سره الله او د بل سره. *اهو* ميلاو کړۍ، کله نا کله په زړه باندې لاس ګدئ چې درزا درته محسوس شي نو الله ورسره ميلاو کړئ، کله ناکله د نبض د رفتار سره الله ميلاوهی تصور کوئ چې الله زړه ته روان دے د الله هو ذکر غوره او ډېر زر اثر کونکے دے، که چرې چاته په هو باندې اعتراض يا يره وي نو هغه د محرومئ په ځاي الله الله ميلاو ساتی، ورد وظايف او ذکوريت واله خلک چې څومره هم پاک صاف وي د دوی د پاره غوره ده چې،

**بې ادب .... بې مراد ....... با ادب .... با مراد**

## ړومبنی طريقه :

په پاڼه په تور پنسل سره الله ليکئ چې څومره ساعته مو طبيعت ملګرے وي هره ورځ تکرار کوئ، يوه ورځ به لفظ الله د پاڼې نه سترګو ته لاړشي بيا د سترګو نه د تصور د لارې په زړه د کوزيدو کوشش وکړئ.

## دويمه طريقه :

د زيرو سپين بلب باندې اول په رنګ سره الله وليکئ، هغه د اوده کيدو نه مخکې يا د پاڅيدو په وخت په سترګو کښې د سمولو کوشش وکړئ، چې کله په سترګو راشي نو بيا هغه لفظ زړه ته کوز کړئ.

## دريمه طريقه :

دا طريقه د هغې خلکو دپاره ده چې د چا رهبر کامل دے او د تعلق او نسبت د لارې روحاني مدد کوي، ځانله يواځې کښينئ او د شهادت ګوتې ته قلم خيال کړئ، او په تصور سره په زړه باندې د الله ليکلو کوشش کوئ، رهبر ياد کړئ چې هغه هم ستا ګوته ونيسي او ستا په زړه الله ليکی، دا مشق هره ورځ کوئ چې تر کومې په زړه الله ليکلے را نشي، په ړومبنو طريقو کښې الله دا سې نقش کيږي، لکه څنګه چې بهر ليکلے شوے په نظر راځي، بيا چې کله د درزارۍ سره الله ميلاويدل شروع شي نو په ورو ورو ځليدل هم شروع شي، خو په دې طريقه کښې د کامل رهبر ملګرتيا وي، ځکه د اول نه روښانه په زړه الله ليکلےشوے په نظر راځي، دنيا ته ګڼ شمېر نبيان وليان راغله د ذکر په وخت کښې د آزمائش په طور پيره په پيره، که مناسب وګڼئ نو د ټولو تصور کوئ، چې د چا د تصور سره په ذکر کښې تيزوالے او ترقي په نظر راغله، نو ستاسو نسيبه د هغه سره ده، بيا د تصور دپاره هغه خوښ کړۍ، ځکه چې د هر ولی قدم د يو نه د يو نبي په قدم وي، خير دے که نبي په ظاهري حيات کښې نه وي، د هر مومن نسيبه د يو نه د يو ولی سره وي، د ولی ظاهري حيات شرت دے، خو کله نا کله چاته د مقدر نه د ممات واله کامل ذات نه هم فيض کيږي خو داسې ډېر محدوده وي، البته ممات واله د دربارونو نه دنياوي فيض رسولے شي، دی ته اويسي فيض وايي، او دا خلک اکثر په کشف يا خوب کښې ګډ وډيږي، ځکه چې مرشد هم په باطن کښې او ابليس هم په باطن کښې، د دواړو پيژندل ګران شي، د فيض سره علم هم لازمي وي چې د هغې د پاره ظاهري مرشد

زيات مناسب دے، که چرې فيض وي او علم نه وي، هغي ته مجذوب وايي، که فيض او علم دواړه وي ور سره هغه ته محبوب وايي، محبوب د علم د لارې خلکو ته دنياوي فيض نه علاوه روحاني فيض هم رسوي، په داسې حال کښې مجذوب د لښتې او کنځلو سره دنياوي فيض رسوي.

که چرې څوک هم ستاسو په تصور کښې راشي او ستاسو
مدد وه نکړي نو بيا په گوهر شاهي ازميښت وکړئ

د مزهب قيد نشته البته که ازلي بدبخت نه يې، ډيرو خلکو ته د سپوږمۍ نه هم ذکر عطا کيږي، د هغي طريقه دا ده چې کله ټوله سپوږمۍ د مشرق اړخ ته وي په غور وگورئ چې کله د گوهر شاهي صورت په نظر راشي نو درې وارې *الله الله الله* ووايي اجازت به وشي بيا بې ډاره او بې خطري په ويلے شوي طريقې عمل کوئ، يقين وکړئ سپوږمۍ واله صورت د ډيرو خلکو سره خبرې اترې هم کړي دي، تاسو هم د خبرو اترو کوشش وکړئ.

## بابت مراقبه

ډېر خلک د روحونو (لطائف، شکتيا) د بيدارۍ او د روحاني طاقت د زدکړې نه بغير د مراقبې کولو کوشش کوي، د دوی ياخو مراقبه لږي نه يا د شيطان وارونه پرې شروع شي، مراقبه د سختو خلکو کار دے چې د هغوي نفس او قلب پاک شوے وي، د عامو خلقو مراقبه ناداني ده، هغه که د هر ظاهري عبادت سره ولي نه وي، د روحونو طاقت د نُور د يو ځای کولو سره يو مقام د رسيدو نوم مراقبه ده ولايت د نبوت څلوېښتمه حصه ده د نبي هر يو خوب،مراقبه،يا الهام وحی سم وي دی ته د تاييد ضرورت نشته، خو د ولی په سلو کښې څلوېښت خوبونه، مراقبې، يا الهام سم وي او نور غلت وي او د دی د تصديق دپاره د باطني علم ضرورت دے،

### ناپوهان خدائے نه پيژني

د ټولو نه ادنا مراقبه د قلب د بيدارئ نه پس لږي، چې د ذکر قلب نه علاوه نا ممکنه ده، د يو جثکي سړے په هوش او بيدارئ کښې راځي، د استخارې تعلق هم د قلب سره دے، د دی نه مخکې د روح مراقبه لږي، د دريو جثکو سره واپس کيږي، دريمه مراقبه د لطيفه انا او روح يو ځای لږي، روح ورسره هم د جبروت پورې ځي لکه څنگه چې جبرائيل د حضور پاک سره د جبروته پورې تلے وو، دغسې خلک په قبر کښې هم دفن کوي خو هغوی خبر نه وي، داسي مراقبه اصحاب کهف ته هم لگيدلي وه، چې د درې سوه کاله نه زيات وخت په غار کښې اوده وو، داسي مراقبه چې کله په ځنگل کښې غوث پاک ته لگيدلي وه نو هلته اوسيدونکي غله پوهه شو چې دا مړ دے، نو قبر له يي د ښخولو دپاره وړو خو مراقبه يې ماته شوه.

د الله د لوري خاص الهام او د دی پيژندل:

چې کله انسان د سيني مخلوق بيدار او منور کړي نو د تجليات قابل شي په هغي وخت الله د هغه سره همکلام شي، دغسې خو هغه په هرشي قادر دے، په هره ذريعه د انسان سره مخاطب کيدے شي، خو هغه د خپل ځان د پيژني دپاره يو خاص طريقه جوړه کړې، ځکه چې د هغه دوستان د شيطان د فريب نه ځان وساتي،د ټولو نه مخکې په سُريانئ ژبه کښې متن د سالک په زړه راځي، او د هغي بيا ترجمه هم په هغي ژبه کښې په نظر راځي، کومه چې هغه وايي، هغه ليکنه سپينه او ځليدونکي وي او سترگې پخپله بندي شي او هغې ته گوري، بيا هغه ليکنه د زړه د لارې لطيفه سری اړخ ته راځي چې د هغي له امله زياته وځليږي، بيا هغه ليکنه د لطيفه اخفیٰ اړخ ته راځي

د اخفیٰ نه نور چمک واخلی او په ژبه راځي، او ژبه په ناځاپه توګه هغه لیکل ویل شروع کړي، که چرې دا الهام د شیطان لخوا وي نو روښانه زړه هغه لیکنه قابو کړي، که چرې لیکل زورور وي نو لطیفه سری یا اخفیٰ هاغه لیکل ختموي، بالفرض که چرې د لطائفو د کمزورئ له امله هغه تحریر ژبې ته ورسي هم نو ژبه هغه د ویلو نه منعه کوي، دا الهام د خاص ولیانو دپاره وي، او عام ولیانو ته الله تعالیٰ د پرښتو یا د روحونو د لارې پیغام رسوي، او چې کله د خاص الهام سره جبرائیل هم راشي نو هغې ته وحی وایي، چې کومه د خاص نبیانو د پاره وي.

## جنت دکومو خلکو دپاره دے

څه ازلي او جهنمي هم د اعمال او عبادت د لارې د جنتي جوړولو کوشش کوي، خو په آخره کښې د شیطان په شان مردود شي، ځکه چې بخل، تکبر، حسد د دوی وراثت دے،

حدیث :چې په چا کښې د زرې برابر هم بخل، حسد، تکبر دے نو هغه جنت ته نشي تلے

جنتي خلک که په عبادت کښې هم نه وي نو رسولے کیږي، داخلک په زړه نرم وي او د حرس، حسد،نه پاک او ښني وي، که چرې په عبادت کښې ولږې نو ډېر لوړ مقام حاصلولے شي، او الله تعالیٰ د دوی د بخشش بهانې جوړوي او څه خلک درمیان واله وي د دوي د نیکۍ او بدۍ تماشه روانه وي، او زنې خلک د الله خاص وي، دی روحونو په ازل کښې دالله سره مینه کړې وه، د دوی مقصد جنت او دوزخ نه وي بلکې د الله په عشق کښې مال، ځان بدن هر څه ورکوي، د الله د ذکر او رحمت سره خپل روحونه روښانه کوي، دیدار الاحی هم حاصلوي، جنت الفردوس خالص د دی روحونو د پاره مخصوص دے، او د دوی دپاره حدیث دے چې، څه خلک به بغیر د حسابه جنت ته ځي.

## " تفسیر "

چاته چې یي د دنیا نظاره ښودلې دنیا یې د هغه په مقدر کښې لیکلې، دوی چې لاندې دنیا ته راغلل د دنیا د حاصلول دپاره یې په ځان لوبې وکړې، غلا، ډاکه، رشوت، د سود غونډې جرمونو یې هم د نظر نه وغورځول، تر دې پورې چې د الله د وحدانیت نه یې هم انکار وکړو، په دی کښې څه روحونه داسې وو چې هغوی د جنت حاصلولو لپاره مزهب یا عبادت هم اختیار کړو خو د عزازیل په شان بې سوده ثابت شو، ځکه چې ثوک ګستاخ یا د الله نا خوښه مزهب یا فرقه  دوی ته په لاره کښې خنډ جوړ شو، دویم روحونه چې هغوی جنت طلب کړے وو، هغوی د دنیاوي کارونو سره سره عبادت او ریاضت اول وګټو د حورو په لالچ کښې یې د  عبادت خانو په لوړې منډې کړې او د جنت په حاصلولو کښې بریالي شو، خو په دې کښې څه خلک په عبادت کښې ناراسته وو خو جنت د دوی په قسمت کښې وو ځکه څه بهانه د دوی په کار راغله خو د جنت هاغه مقام یې حاصل نکړو، چې کوم نیکانو حاصل کړے وو د دوی د پاره الله فرمائلي، ولې دا خلک پوهیږي چې مونږ به دوی د نیکانو سره برابر کړو، ځکه چې د جنت اووه درجې دي، عامو خلکو ته هدایت د نبیانو، کتابونو، ګروګانو، ولیانو په زریعه کیږي دوی ته په دي مزهب کښې د شاملیدو د پاره کلمه ویل لازمه ده، او خواص بغیر د مزهب او بغیر د کتابونو هم د الله په نظر رحمت کښې راځي، یعني دوی ته هدایت د نُور نه کیږي.

الله چې چاته وغواړي د نُور نه هدایت ورکړي  -(القرآن)

ویلے کیږي چې په جنت کښې د داخلیدو د پاره کلمه لازمي ده، جنت ته به دا وجودونه نه روحونه به ځي، او که د تلو په وخت کښې ویل دي نو دا روحونه چې مقام دید ته لاړ شي په هر وخت کښې به کلمه ولولي، د مرګ نه پس سحي، څنګ چې یي د حضور پاک والده او والد او د تره روحونو ته د مرګ نه پس کلمه ویلي وه، بلکې خواص الخاص روحونه د بره نه کلمه وایي یعنې اقرار او تصدیق وکړي او راځي، حضور پاک فرمایلي وو چې زه دنیا ته د راتلو نه مخکې هم نبي وومه، دا لفظونه د روح دي د روحونو د پاره کیدلے شي، وجود خو په دي دنیا کښې که په حلقه کښې وی نو هلته مشر وي، امتي وي نو نبي وي، ګڼې د دوی څه کار، بیا دغه خلک مختلف مزهبونو کښې لیږل کیږې، څوک د بابا فرید په جامه کښې، څوک د ګرو نانک په جامه کښې ښکاره کیږې، الله حاصلولو واله روحونه مزهب نه ګوري چې د چا د الله پورې رسائی ویني د هغه سره لګي، غوث علي شاه چې یو ولی تیر شوے دے په تزکره غوثیه کښې یې لیکلي دي، چې ما د هندو جوګیانو نه فیض اخستے دے په دی رمز باندې پوهه نه شو، مسلمانانو علماو په غوث علي شاه د واجب القتل فتوي ولګولې، او مسلمانانو ته یې او ویل چې د چا په کور کښې هم دا کتاب وي نو ویې سوه ځوئ، خو هغه کتاب بچ را بچ شو وس هم په هندوستان، پاکستان کښې موجود او مقبول دے، زني قومونو نبیان تسلیم کړل او زینو د نبیانو نه انکار وکړو، انکار کولو واله قومونو کښې هم الله تعالیٰ د دغې مزهب مطابق دا خلک ولیږل او هغوي دوی ته د ګناهونو نه د بچکیدو تعلیم ورکړو، او د دوی د عبادت او رسم رواج په ذریعه یې د دوی مخ د الله اړخ ته د ګرځیدو کوشش کړے د امن او د رب د محبت درس یې ورکړے، که چرې دا خلک نه وو نو نن به هر مزهب د یوبل دپاره د ویني تږې جوړیدل، داسې روحونو ته په دنیا کښې د خضر (وشنومهاراج) نه هم لارښوونه میلاو شوې ده، د هر مزهب په راز پوهه وو.

## تقوا دکومو خلکو دپاره ده

علم الیقین :

دا خلک دنیا دار وي او د اوریدو په مقام وي د علم د لارې یقین ساتي، د دوی ایمان په اوریدلو خبرو باندې وي، بي لارې کیږې هم دوي ته د تقوا نه نه بلکې د محنت نه میلاویږی که رزق په حلاله سره وګټي یا په حرامه سره.

عین الیقین :

دا خلک په تارک الدنیا بللے کیږې د دنیا واله سره اوسیږي خو د دوی روح او زړه د الله طرف ته وي، دوی ته اکثر رحماني نظاري هم خودلے کیږې، د دوی مقام دید وي دوي ته هم د جائز محنت سره میلاویږی، د ناجائز سره دوي ته تاوان رسي.

حق الیقین :

د دوی مقام رسید وي یعنې د الله د اړخ نه څه مرتبه میلاویږی او د الله په نظر رحمت کښې راځي، دوی ته فارغ الدنیا وایي، په دنیا کښې د پاتې کیدو باوجود د جائز او ناجائز کار نه ځان لرې ساتي، دا که په ځنګلونو کښې هم ناست وي نو الله ورته هلته هم رزق رسوي، دا د تقوا منزل دے، ړومبنی خلک د تقوی خبره خامخا کوي خو کامیاب پکې نه وي.

# تقدير

## تقدير په دوه ډوله وي

### ړومبے ازل او دویم معلق

زني خلک وايي چې په مقدر کښې يې رزق ليکلے نو د دی دپاره ګرځيدو راګرځېدو څه حاجت دے، مخدوم جحانيا ويلي چې د رزق د حاصلولو لپاره يې ګرځيدل راګرځېدل هم په تقدير کښې ليکلي دي، د مثال په توګه چې ستاسو د پاره يې د ګلونو ګلدسته د کوټې د پاسه کيښودي ده، دا تقدير ازل دے، د دی د راخستو دپاره تاسو ته د پوړو د لارې ختل دي، دا تقدير معلق دے، چې څه ستاسو په اختيار کښې دي دا په معلق حساب کتاب وي، نه چې د تقدير ازل، تاسو کوټې ته اوښتی او خپل نصيب هم حاصل کړو، که چرې تاسو ناراستي وکړه او کوټې ته بره نه شوئ نو د هغي نه به محرومه شئ، دويم سړے چې د هغه په مقدر کښې په بام باندې ګلدسته نشته دے، هغه که د پوړو د لارې وخيژي هم نو محرومه دے.

دريم روحونه:

چې هغوی نه دنيا طلب کړه او نه د جنت طلبګار شو خالص د رب نظاري ته يې کتل، دوی چې دنيا ته راغلل نو د رب د لټون د پاره يې خپل هرڅه قربان کړل، زني بادشاهي يې هم پريښودي او د رب د حاصلولو لپاره وږي تږي په ځنګلونو کښې اوسيدل، تر دي پورې چې چا د دريابونو په غاړه ډېر کلونه تېر کړل، د کاميابی نه پس دغه د الله وليان اوبللے شو، او د الله د اړخ نه په بيلا بيلو کارونو ولګيدل، او د دوزخيانو دپاره هم دارو او دعا جوړ شول.

*د مومن د نظر سره تقدير بدليږي ------- (علامه اقبال)*

د دی دپاره د ارضي ارواح په هر پيدائش د مرشد ،ګرو، د سترګو ليدل مهم دي، په تير شوي پيدائش يا د کورنی په زمانه کښې مرشد د موجوده وجود نه ازاد وي،ځنګه چې نبوت هم د اولوالعزم مرسل د راتلو نه پس ازاديږي، لکه ځنګه چې موسیٰ کليم الله اولوالعزم وو د موسیٰ کليم الله نه پس چې څومره هم نبيان راغله، د عيسیٰ روح الله د راتلو نه پس هغه دين هم ختم کړے شو، او د عيسیٰ روح الله نه د حضور پورې چې څومره هم نبيان د عربو د ختي نه علاوه راغلي وو هغه د حضور پاک په راتلو ټول کالعدم اوبللے شو، خو د اولوالعزم مرسل د دين سلسله باقي پاتې شوه، چې په هغې کښې آدم صفی الله، ابراهيم خليل الله، موسیٰ کليم الله، عيسیٰ روح الله، او محمد رسول الله دے، او هر يو ولی د دوی په نقش قدم باندې دے، ځکه چې د انسان د پنځو لطائفو تعلق د پنځو رسولانو سره دے، د دغې وجې نه د هغوي نبوت فيض او روحانيت به تر قيامته پورې رسېږي، خوک چې وايي بغير د کلمې به خوک جنت ته نه ځي، د دی مقصد څه د يو نبي کلمه نه ده بلکې د هر يو اولوالعزم نبی او د دين طرف ته اشاره ده، ځکه حضور پاک فرمايلي وو چې څه د هغي اولوالعزم مرسلانو د کتابونو يا د دين نه ده منعه کيدو دپاره نه يم راغلے، يعني په کتابونو کښې چې بدلون شوے وو هغه يې هم سمولو، د آدم صفی الله سلسله وس هم روانه ده، چې کوم خلک په قلبي ذکر کښې دي د الله په نوم جاري او عاجزي کوي، توبه اوباسي او د ګناهونو نه د بچکيدو هسې کوي، دغه ړومبے دين، ړومبے عبادت، او ړومبے نبوت وو، د غوث يا د هر يو ولی قدم د آدم صفی الله په قدم باندې دے، مجدد الف ثاني ويلي وو چې ځما قدم موسوي دے، او د قلندريانو يوه سلسله عيسوي ده، شيخ عبدالقادر جيلاني د محمدي مشرب سره تعلق لري،

په زينو الهامي کتابونو کښې يې ليکلي دي چې په دى دنيا کښې ( څوارلس زره) آدمان راغلي او چا ويلي چې آدم صفى الله څوارلسم او اخرے آدم دے، په دى دنيا کښې واقعي ډېر آدم راغلي دي، چې کله يې صفى الله د خاورې نه جوړولو نو پرښتو ويلي وو چې دا به هم په دنيا کښې فساد او جګړې کوي، يعنې پرښتې د تيرو شوؤ آدمانو د حالاتو نه خبر وي، ګنې دوى ته څه پته وه چې الله څه جوړوي او دا چې لاړ شي نو څه به کوي، په لوح محفوظ کښې بيلا بيلې ژبې، بيلابيل کلمې، بيلابيل جنتر منتر، بيلابيل د الله نومونه، بيلابيل سورتونه، تر دي پورې چې د جادو عمل هم پکې درج دے، چې کوم هاروت او ماروت دوو پرښتو خلکوته خودلے وو، او د سزا په توګه هغه دواړه ملائکې د مسر په ښار د بابل په کوهى کښې اولټه زوړندى شوې دي، هر آدم ته يې يوه ژبه زدکړه بيا يې د دوى قوم ته نبيان د هدايت دپاره وليږل، ځکه وايي چې په دنيا کښې يو لاک (څليرويشت) زره نبيان راغلې، او د آدم دنيا ته د راتلو شپږ زره کاله وشو، که په هر يو کال کښې نبي راتلو نو شپږ زره به وو، څه وخت پس يې دا قومونه د نافرمانى د وجى تباه کړه، لکه څنګه چې د آثار قديمي ښارونه پس ته راښکاره کيدل او د هغي ځاي په ليکلي شوي ژبه څوک نه پوهيدل، او زنې قومونه يې د ابو په زريعه غرق کړل، او په دى کښې څه د نوح د طوپان په شان څه خلک په هغي سيمو کښې بچ هم شو، په آخره کښې يې صفى الله د ټولو نه غوره جوړ کړو او عربو ته يې وليږلو، او لوي لوي نبيان هم د دى آدم د اولاد نه پيدا شو، د بيلابيلو آدمونو بيلابيلې ژبې په هغي بچ شوي قومونو کښې پاتې شوي، چې کله آخري آدم راغلےنو هغه ته يې سُرياني ژبه ښودلې وه، چې کله د هغه اولاد لرې لرې په چکر لاړل نو د ړومبي قومونو سره يې هم ليدل وشو، او چا پکې ښکلې ښنه ځايونه وليدل نو د هغوي سره يې سکونت اختيار کړو، په عربو کښې سُرياني ويلے کيدل بيا دا قومونه د يوبل سره د ميلاويدو نه عربي، فارسي، لاتيني، سنسکرت، ورسره ورسره د انګريزئى سره ميلاو شوه، په مختلفو ټاپونو کښې د مختلف آدمونو اولاد مقيم وو، په دى کښې يو خانه بدوش آدم هم وو، چې د هغي اولاد نن هم موجود دے، چې د هغي په زريعه مختلف قومونه دريافت شو، د سمندر نه پوري غاړه ټاپونو واله قومونه د يوبل نه بې خبر وو، دومره لرې لرې سمندري مزل خو نه په اسونو کيدلے شو او نه کشتى رسيدلے شوي، کولمبس په مشيني سمندري جهاز جوړولو کښې کامياب شو، چې د هغي په زريعه هغه ړومبنے سړے وو چې د امريکې سيمي ته ورسيدو، په غاړه باندې يې خلکو ته وکتل نو سره وو هغه پوهه شو او ويل يې کيديشي چې انډيا ته راغلو او هغه انډين دي ځکه دې قوم ته Red Indian وايي چې په نارت ډګونا رياست کښې وس هم موجود دي. د ريډ انډين د قبيلې د يو مشر نه يې پوښتنه وکړه چې ستاسو آدم څوک دے، چې زمونږ د مزهب مطابق زمونږه آدم په ايشيا کښې دے چې د هغه د بى بى نوم حوا دے، خو زمونږ د تاريخ مطابق زمونږ آدم د ساوت ډکونا South Dakota د يوي غونډئ نه راغلے، د هغي غونډئ نښه وس هم موجود ده، خلک وايي چې انګريز او امريکن د يخ موسم د وجى سره دي، خو داسي نه ده، د يو تور آدم نسل هم په دى سيمو کښې د پخوا نه موجود دے هغه تر وسه پورې سره نه شو، دغه وجه ده چې د انسانانو رنګونه، شکلونه، مزاجونه، دماغ، ژبې، خوراک، د يو بل نه مختلف دي، د آدم صفى الله د اولاد لړئ د وسط ايشياء پورې پاتې شوه، دغه وجه ده چې د وسط ايشياء واله شکلونه د يوبل سره ميلاويږى،

ويلے کيږې چې آدم صفى الله(شنکر جى) په سريلنکا کښې کوز شوے وو، او بيا د هغي ځاي نه عربو ته لاړو او د هغي نه پس په عربو کښې اوسيدو او د عربو په زمکه د هغه قبر موجود دے، نو بيا په سريلنکا کښې د کوزيدو او د قدمونو نښه کول چا کړې؟ چې د وسه پورې خوندي دي، د دى مقصد دادے چې د هغه نه مخکې دغلته

یوه قبیله آباده وه، چې کوم قومونه ختم کړے شوي د هغوي نبوت او ولایت هم ختم شوے پاتې نور خلک د دی هستیانو نه محرومه لږ وخت پس ورک شول، خنګه چې به دا سیمې پیدا کیدي د ایشیاء نه به ولیان ورسیدل او د خپل خپل مزهب تعلیم به یې ورکولو، او نن په ټولو سیمو کښې د ایشیاء دین خور شو ، عیسیٰ یروشلم، موسیٰ بیت المقدس، حضور پاک مکه، د نوح او ابراهیم تعلق هم د عربو سره وو، څه نسلونه په عزابونو غرق شول، د زینو شکلونه د میلو او شادوګانو په شان شو، څه پاتې شوي خلک د یری د وجی نه د رب اړخ ته راغلل. او زیني پوهه شو چې الله قهار دے نو د هغه نه بیزار شو او د ده یې د هریو حکم نافرماني وکړه، او ویل یې چې د رب داسې... او داسې... هیڅ هم نشته انسان یو چنجے دے دوزخ او جنت جوړي شوي خبرې دي، د موسیٰ په وخت کښې هم چې د کوم قوم نه شادوګان جوړشوی وو هغو یورپ اړخ ته مخه کړې وه، د دی وخت د هامله موریانو پسته د شادوګانو په شکل کښې د انسان پیدائش ورکړے وو، هغه قوم وس هم موجود دے، هغه پخپله وایي چې مونږ د شادوګانو د اولاد څخه یو، چې کوم قوم د میلو په شکل کښې بدل شوے وو هغې د أفریقي ځنګلونو ته مخه کړې وه، په دی وخت د هامله موریانو په خیټه کښې انساني بچي وو چې د هغي په زریعه روسته نسل خپور شو (مم) ورته وایي په وجود یې وړده وړده ویښته وي ښځې پکې زیاتي وي، انسانان وړي او تښتوي یې هم، په دوی باندې د مزهب رنګ نه لږي، خو د سړیتوب د وجی نه شرمګاه په پاڼو پټوي، بل یو آدم ته د یوې غلطۍ په وجه زر(1000) کاله سزا میلاو شوي وه، هغه یې د مار په شکل کښې بدل کړے وو، د دی پاتې شوے قوم چې د یو خاص قسم مار په شکل کښې دے د پیدائش په زرم (1000) کاله پس انسان هم جوړیږي، دی ته روحا وایي، په تاریخ کښې دي چې یوه ورځ سکندر اعظم د ښکار دپاره ځنګل ته لاړو چې وه یې کتل یوه ښکلې ښځه جاړې په تپوس دي ویل چې زه د چین شهزادګۍ یم د خپل خاوند سره ښکار له وتلي ووم خو خاوند مې زمري وخوړو زه وس یواځې پاتې شوي یم، سیکندر ویل ځما سره راځه زه به تا واپس چین ته ولیږم، ښځې ویل، خاوند خو مې مړ شوے زه چې وس لاړه شم نو څه به وایم، سکندر دا کورته راوسته او د دی سره یې واده وکړو، څه میاشتې پس د سکندر په خیټه کښې درد پیدا شو، هر قسم علاج یې وکړو خو ارام ورته ونشو، درد زیات شو حکیمان عاجز راغلل، یو پاړوګر هم د سکندر د علاج دپاره راغلے، ده سکندر یواځې کړو او ورته یې وویل زه ستاسو علاج کولے شم خو زما یو څو شرطونه دي، که په یو څو ورځو کښې زما د علاج نه شفاء ونه شوه نو بیشکه ما قتل کړه، نن شپه کیچړي پخه کړه چې مالګه پکې زیاته وي دواړه ښځه او خاوند یې په مړه خیټه وخورئ او کوټې ته د دنني نه تاله واچوه چې په دواړو کښې بهر خوک لاړ نه شي ته به اوده کیږې نه خو چې ښځې ته دې داسې ښکاري چې دے اوده دے، چې د اوبو قطره هم دننه موجود نه وي سکندر هم داسې وکړه، د شپې په یو وخت کښې ښځه تږې شوه، چې وه یې کتل د اوبو لوښے خالي دے بیا یې د ور د کولاوهلو کوشش وکړو وه یې کتل چې تاله ده ورته، بیا یې خاوند ته وکتل محسوس یې کړه چې بې خبره وده دے، بیا تږې مار جوړ شو او د نالې په سوري بهر لاړو او اوبه یې وڅښلې او بیا د مار په شکل کښې دننه شوه بیا تږې ښځه جوړه شوه، سکندر اعظم دا ټوله قیصه لیدله، سحر یې پاړوګر ته ټول حر څه او ویل، هغه ویل، ستا ښځه ناګن مار دے چې زر کاله پس شکل بدلوي، د دی زهر په خیټه کښې د درد سبب جوړ شوے دے، بیا یې دا ښځه د چکر په بهانه سمندر ته بوتله، او چې کوم ځاي ته یې غورځولې هغه نښه وس هم موجود ده، دی ته سکندري وایي، د دی نسل هم په دی دنیا کښې موجود دے، د عامو مارانو غوږونه نه وي، خو د دی نسل واله مارانو غوږونه وي، پته نشته چې د کوم آدم قبیله د چین په غرونو کښې بنده ده، هغې سیمې ته یې د تلو نه د منعه کولو لپاره، ذوالقرنین د کاڼو دیوال جوړ کړے وو، د دي وړده وړده غوږونه دي یو خوروي او دویم

اغونديي، دی ته جوج ماجوج وايي، سائنس ډيري سيمي لټولي دي خو وس هم ډيري سيمي پاتې دي، د هماليا نه شاته هم د واورو انسانان موجود دي، ډېر انسانان په ځنګلونو کښې هم موجود دي، د هغوي ژبه د هغوي نه علاوه بل څوک نه پيژني، هغه هم د خپل آدم په طريقه عبادت کوي، او د ژوند د تيرولو دپاره د دوی هم د مشرئ نظام قائم دے، د دی براعظمونو نه علاوه نوره هم ډېره زمکه ده، لکه څنګه چې سپوږمۍ، لمر، مشتري، مريخ، داسي نور، هلته هم آدم راغلي خو هلته قيامتونه هم راغلي،چرته يې آکسيجن ودرولو او چرته يې زمکه تس نس کړله.

## په مريخ کښې د انسان ژوند وس هم موجود دے او په لمرکښې هم اتشي مخلوق آباد دے

ويل کيږي چې يو خلاباز کله په سپوږمۍ کوز شو، هغه د برنو سيارو خيړنه غوښتله نو هغه ته د ازان اواز راغلے چې د هغي نه هغه متاثره شو او مسلمان شو، هغه د مريخ دنيا وه چې پکې د هر مزهب خلک اوسيږي ،زمونږه سائنس دانان هم مريخ ته وه نه رسيدل، بلکې هغه خلک خوځله دي دنيا ته راغلې دي او د تجربي په توګه يې د دی ځاي انسانان هم د ځان سره وړي دي، د دوی سائنس او ايجاد زمونږ نه ډېر مخکې دے، زمونږ سيارې يا سائنس دانان که هلته لاړل نو د هغوي د نيولو نه نشي خلاصيدے، يو آدم ته الله ډير علم ورکړے وو او د هغه اولاد د علم د لارې بيت الماموره پورې ورسيدو، يعنې چې کوم حکم به الله پرښتو ته کولو لاندې به هغوي اوريدو، يوه ورځ پرښتو وويل اے الله  دا قوم زمونږ په معامله کښې مداخلت جوړ شوے، مونږ چې کله څه د کار دپاره دنيا ته ځو نو دوی د مخکې نه د هغي توړ کړے وي، الله جبرائيل ته وويل لاړشه او د دوی امتحان واخله، يو دولس کلن ماشوم چې چيلئ يې څرولي، جبرائيل د هغه نه پوښتنه وکړه چې ته هم څه علم لرې، هغه وويل، وايه، جبرائيل وويل، وايه په دی وخت کښې جبرائيل چرته دے، هغه سترګې پټې کړې او وويل يې په آسمانونو کښې نشته، بيا چرته دے؟ هغه وويل په زمکه هم نشته، جبرائيل وويل بيا چرته دے؟ د سترګې کولاو کړي او وويل يې چې ما (څوارلس) طبقونو کښې ولټولو چرته هم نشته، يا زه جبرائيل يم او يا ته جبرائيل يې، بيا الله پرښتو ته وويل چې دا قوم د سيلاب په زريعه غرق کړه، هغوی دا فرمان واوريدو او د وسپنې او شيشو کورونه جوړول يې شروع کړل، بيا يې د زلزلې په زريعه هغه قوم تباه کړو، په هغې وخت يې هغه سيمې ته :کا لره :او وس ورته يونان وايي، هغوی به د روحاني علم د لارې او زمونږ سائنس دانان، د سائنس د علم د لارې د رب په کارونو کښې مداخلت کوي، د دوی د يرولو دپاره يې وړې وړې تباياني، او د مکمل تباهۍ لپاره يې يوه سياره د زمکې اړخ ته راليږلي، چې د هغي راغورځيدل د شلو پنځويشت کاله پورې متوقع ده، او هغه به د دنيا اخرنۍ ورځ وي، د هغي يوه ټوټه په تيرو کالو کښې په مشتري باندې پريوتي ده، سائنس دانانو ته هم د هغي علم دے، او دا د هغي د راپرېوتو نه مخکې په سپوږمۍ يا يوې بلې سيارې باندې اوسيدل غواړي، بلکې په سپوږمۍ د پلاټونو بوکنګ هم شوے دے، د دی پيژندلو باوجود چې په سپوږمۍ کښې د انساني ژوند آثار يعنې، هوا، اوبه، او شينکے نشته بيا د محنت مقصد څه شو، پاتې شو سوال د تحقيق، په سپوږمۍ، مشتري باندې د رسيدو انسانيت ته څه فائده وشوه، يا يې څه داسي دارو يا نسخه د ډېر عمر يا مرګ د شفاء د پاره پيدا کړه، که چرې د مريخ د مخلوقه پورې لاړل هم نو د هغه ځاي آکسيجن او د دی ځاي آکسيجن د وجی نه د يو بل په ځاې اوسيدل ګران دي، بس بې کاره دولت ځايه کوي، که چرې دغه دولت روس امريکا په غريبانانو خرچ کړې نو ټول به خوشحاله شي، په شخصيت کښې د توپير له امله د يوبل د تبا کيدو دپاره ايټم بم هم جوړوي، بلکې د بمونو نه بغير هم دنيا تبا کيږي،

مقرب روحونه په مخکې صفونو کښې وو، عام روحونه يې په دی دنيا کښې د جوړ شوو آدمونو په قومونو کښې راوليږل، چې څه تور، څه سپين، څه زيړ، او څه د سرې خاورې نه جوړ کړي وو دوی ته يې د جبرائيل او هاروت ماروت په زريعه علم خودلے وو، چې په زمکه باندې به يې آدم جوړولو نو خبيث جن به هم موقع وموندله او د هغوي د اولاد په وجود کښې به دننه شو، او دوي به يې په خپل شيطاني گرفت کښې د اخستلو کوشش کولو، بيا د هغي قوم د نبی ولی او ښودلے شوې تعليمات يې د خلاصون زريعه شوه، بې شماره آدمونه يې د جوړو په شکل کښې جوړ کړي وو، چې د هغي نه د اولاد لړۍ روانه شوه، خو څو ځله يې يوازې ښځه هم جوړه کړي وه، او د امرکُن سره د هغي اولاد شوے وو، هغه قومونه هم په دنيا کښې شته دے په دی قبيله کښې يواځې ښځې مشري وي، او هغه د موئنث د اولاد د وجی نه رب ته هم موئنث وايي، او ځان د پرښتو په اولاد گڼي، ځکه چې د هغوي د موئنث آدم واده يا بغير د سړي نه بچي کيدل، دغه رسم په هغوي کښې وس هم راروان دے په دی قبيلو کښې به اول د ښځې که د هرچا نه اولاد وشو او بيا به يې که د هر چا سره واده وکړو، او دوي به دا فکر هم نه کوو چې دا بد دي، د روحونو د اقرار، بخت، او د مرتبو د وجی نه يې د دوی په شان آدم جوړ کړل، د دوی په څير روحونه يې لاندې راوليږل، دغه وجه ده چې د دوی دپاره يې څه خاص دين يا ترتيب ورنکړو، که په دوي کښې نبي راغله هم نو ډيرو لږو تسليم کړل، بلکې د نبيانو د تعليم برعکس يې وکړل، د الله پر ځای يې د سپوږمۍ، ستورو، د لمر، د ونو، د وور، تر دي چې مارانو ته يې هم سجدې کول شروع کړل، په اخر کښې يې آدم صفی الله د جنت د خاورې په جنت کښې جوړ کړو، ځکه چې په عظمت، او فضيلت کښې د ټولو نه وچت شي، او چې د خبيثانو نه هم په امان کښې شي، ځکه چې جنت ته د خبيثانو رسائی نه وه، عزازيل د خپل علم د وجی نه پيژندلے وو، چې د عبادت د امله د ټولو پرښتو مشر جوړ شوے وو، او د جناتو د قوم هم څخه وو، د آدم په وجود يې د حسد نه لاړې توکړې او د توکانو په زريعه يې د خبيثانو په شان جراثيم په وجود دننه شو، چې هغې ته نفس وايي، او هغه هم د آدم د اولاد په ميراث کښې راغلے، د هغي دپاره حضور فرمايلي وو: چې کله انسان پيدا کيږي نو يو شيطان جن هم د ده سره پيداکيږي، په پرښتو او ملائکو کښې توپير دے، په ملکوت کښې پرښتې وي چې دهغې تخليق د روحونو سره شوے، د ملکوت نه بره په جبروت کښې مخلوق ته ملائک وايي، چې د روحونو د امريکن نه مخکينی دي د رب د اړخ نه آدم صفی الله ته د سجدې حکم وشو، بلکې د دی نه مخکې يې نه يو آدم په جنت کښې جوړ کړے وو، او نه چرته يو آدم ته پرښتو سجده کړې وه، عزازيل حُجت وکړو، د سجدې نه انکاري شو، نو په هغه باندې لعنت او وريدو او د صفی الله د اولاد سره يې دښمني شروع کړه، بلکې د ړومبنی آدمونو قومونه د ده د دښمنۍ نه په امان وو، د هغوي د گمراهۍ دپاره خبيث جنات هم پوره وو، بلکې شيطان د ټولو خبيثانو نه ډير زوررور وو، د ده صفی الله اولاد داسې قابو کړو او داسې جرمونه يې ورته زده کړه، چې د هغي د وجی نه دويم قامونه د دی ايشياء واله نه نفرت کونکې شو، او د آدم د عظمت د وجی نه چې کومو خلکو ته د رب داړخه هيدات ميلاو وو دومره لوي مقام او عظمت واله شو چې نور قامونه ورته حيران شو، د ټولو نه لوي آسماني کتابونه توريت، زبور، انجيل، او قرآن پاک په دوي باندې نازل شو، چې د هغي د تعليم فيض او برکت سره ايشيا يې دين د ټولې دنيا په قامونو کښې خپور شو، د آدم روح يې لا دننه کړے نه وو، پرښتې پوهه شوي چې دا هم د دنيا دپاره جوړوي ځکه چې د خاورې انسان په زمکه وي، بيا يې په څه عزر دنيا ته وليږلو ، ازلي کارونه د الله د اړخ نه کيږي خو الزام په بنديانو باندې لگي، که چرې آدم يې

بغیر د الزامه دنیا ته رالیږلے وو نو هغه به په دنیا کښې ګیلي ماني کولي، ځکه به یې توبې او جړاګاني کولي؟

(1) د ازل د ورځې واله دوزخي روح چې د غیر مزهب په کور کښې پیدا شي هغه ته کافر وایي، دغه خلک د الله منکران د نبیانو دښمنان، د ولیانو دښمنان وي، مغروره او سخت زړه واله د الله مخلوق ته په ازار رسولو خوشحالیږي، دویمه درجه که مزهب ته را هم شي نو د مزهب نه لري وي، دغه روح که چرې په دینداره کورنۍ کښې پیدا شي نو هغه ته منافق وایي.

(2) دغه خلک د نبیانو ګستاخ، او د ولیانو خوا ته په مزهبونو کښې فتنه وي د دوی عبادت هم د ابلیس په شان بېکاره وي، مزهب دوی ته د جنت د تلو کوشش کوي خو بخت یې دوزخ اړخ ته راکاږي، بلکې د نبیانو ولیانو د مدد نه محرومه وي، ځکه یې شیطان او نفس په لالچ کښې راشي چې ته خو دومره علم لري او دومره عبادت کوي په تا کښې او په نبیانو کښې څه توپیر دے، بیا هغه د خپل باطن نه بغیر ځان د نبیانو په خیر ګڼي، او ولیان د خپل ځان محتاج ګڼي، بیا د روحانیت او کراماتو اقراري نه وي بلکې د هغې علم اقراري وي چې د هغې په هغوي کښې صلاحیت وي، تر دې پورې چې معجزو ته جادو اوایي او انکاري شي، د ابلیس طاقت مني خو د نبیانو ولیانو طاقت د دوی دپاره ګران دے.

(3) ازل واله جنتي روح که چرې په غیر مزهب یا ناپاک چاپیریال کښې راشي نو هغه ته معزور وایي، د معزوره دپاره د ښښاني او معافۍ امکان وي، دغه روحونه د صراطِ مستقیم په لټون کښې د دلدل نه د راوتو دپاره د ولیانو ملاتړ ګوري، نرم زړه عاجز او سخي وي،

(4) که چرې جنتي روح د یو آسماني مزهب او دینداري کورنۍ کښې پیدا شي، نو هغه ته صادق او امین وایي، دغه خلک د عبادت او ریاضت سره د الله قرب حاصل کړي او د هغې وراثت حقدار شي.

## په تصوف کښې اهمیت قلب ته دے

چا د ضربونو، چا د کبډي، چا د ډانس، چا دیوالونه جوړول او ورانول، او چا د ورزش په زریعه د زړه درزارے راوچت کړو، بیا ورته دې سره په الله الله میلاویدو کښې اساني راغله، او پرله پسې الله الله ټولو لطائفو ته پخپله ورسیدو، او زني خلکو د جور تلو نه بغیر د دوی نقل وکړو هغوی هم د الله الله سره ډانس شروع کړو، د درزاری سره په الله الله پوهه نه شو او میلاو یې نکړو، البته د هغوي روحِ حیواني چې د کومې تعلق د ټپونو سره دے، د الله د نوم سره اشنا شو، دغسې د موسیقۍ سره الله الله میلاوحلو سره روح نباتي اشنا او زوورور شي، موسیقي د روح نباتي خوراک دے، په امریکه کښې یې په زینو فصلونو د موسیقۍ تجربه وکړه یو شان فصل یې په یو شان زمکه وه کرو، په یو کښې یې شپه او ورځ موسیقي او په بل یې غلے پاتې کړو، د موسیقۍ واله فصل د دویم نه په وده کښې ډېر غوره وو، نفس ډېر ځان خوړونکے دے، د پاکیدو نه پس هم بانه خور دے، د ده ساز او اواز خوښ دے، زني خلک د ساز په زریعه متوجه شو او د هغه روحِ یې د الله اړخ ته د تاویدو کوشش وکړو، زني خلکو د ګیټار سره الله الله میلاوحلو کله نا کله چې د خوبه بیداریږم نو ځما ده دنني نه هغسې د الله الله اواز راځي، داسې خلک د نور شغل یعني د ګانو ویلو واله او تماشګیرو نه غوره شو، خو د ولایت مرتبې ته وه نه رسیدل، دا د غوښتنې او ارمان

واله خلک وي، او د یو کامل په زریعه یو منزل ته رسېږي، په اسلام کښې هم او د نورو مزهبونو صوفیانو هم په څه نسخه، یا طریقه د الله نوم په خپل ځان کښې د جزب کیدلو کوشش کړے، چې کوم کار الله ته د نزدې کیدو او د هغه په عشق کښې اضافه کوي هغه ناجائز نه دے.

حدیث :الله عملونو ته نه بلکې نیتونو ته گوري.

شریعت واله دي ته معیوبه او غلط گوري ځکه چې هغه د شریعت نه مطمئن او سیرابه کیږي، خو هغه خلک چې کوم د شریعت نه مخکې تلل غواړي، یا هغه خلک چې په شریعت کښې نه دي، دوی د څه بل رنگه کولو نه ولې منعه کوي؟

*****

ټول دينونه يې په دی دنيا کښې د نبيانو په زريعه جوړ کړي، چې له دي نه اول پخپله عاشق پخپله معشوق وو، او هاغه روحونه چې د ده په قرب جلوه او محبت کښې وو، هغه عشق الاحی، دين الاحی، او دين حنيف وو، بيا هاغه روحونه دنيا ته راغلل او د هغي حاصلولو لپاره يې خپل ځان، مال، قربان کړل۔ دا اول د خاص پورې وو او وس د روحانيت د لارې د عامو پورې ورسيدو.

**حديث: ابوهريره :ماته د حضور پاک نه دوه علمونه حاصل شوي يو مي تاته او وايو، که دويم درته او وايم نو ته به ما قتل کړي!**

چې کله د اوبو د مينځ نه وچ شوي کتابونه راووتل نو مولانا رووم ويل اين چيست؟ شاه شمس ويل اين آن علم است کہ تو نمی دانی۔

چې کله موسیٰ ويل چې څه نور علم هم شته؟نو الله ورته وويل د خضر خواله لاړشه.

د هر مونځ کونکي دعا: اے الله ماته هاغه لاره وښايه چې په چا ستا انعام شوے دے

علامه اقبال : دے به څه پوهه کړي غريب د دوو رکعتو امام.

هغه روحونه چې د ازل نه په مرتبه دي، الله چې د چا سره مينه کوي، او څوک چې د الله سره مينه کوي، دنيا ته چې راغله هم نو د رب د نوم ليواله شو، مثلاً عيسیٰ د پيدائش په وخت کښې ويلي وو چې زه نبي يم، خو مريم ته د پيدائش نه مخکې جبرائيل زيرے ورکړے وو۔ د موسیٰ په اړه فرعون ته پيشگويي شوي وه چې په پلانی قبيله کښې به يو ماشوم پيدا کيږي چې ستا د تباهی سبب به جوړيږي او د الله خاص بنده به وي، حضور پاک هم ويلي وو چې زه دنيا ته د راتلو نه مخکې هم نبي وومه، ډير مينه ناک او ازلي روحونه په بيلا بيلو مزهبونو او په بيلا بيلو وجودونو کښې پراته دي.

په آخره زمانه کښې به الله تعالیٰ يو روح دنيا ته راليږي، چې دا روحونه به لټوي او يو ځاې کوي به يې او دوي ته به رايادوي چې تاسو هم چرته د رب سره مينه کړې وه. داسي تمام روحونه هغه که د مزهب يا غير مزهب په وجود کښې وي د هغه په اواز به لبيک وايي، او د هغه گير چاپيره به راغونډيږي، هغه به د رب يو خاص نوم دی روحونو ته عطاء کوي چې د قلب نه به تر روحه پورې لاړشي او بيا به روح د هغي نوم ذاکر جوړ شي، هغه نوم به روح ته يوه نوې ولوله او يو نوے طاقت او محبت وبښي، د هغي نوم سره به د روح تعلق بيا د الله سره جوړ شي.

ذکر قلب د ذکرِ روح وسيله ده، لکه څنگه چې بندگي يعني مونځ، روژه، د ذکر قلب وسيله ده۔ که چرې د چا روح د الله په ذکر کښې ولگيدو نو هغه د هغي خلکو په شان دے د چا سره چې د يوم محشر د ورځې د پيمانې يره نشته.

د روح نه پس ذکر او عبادت د هغه لوی مرتبې گواهي ده۔ چې د کومو خلکو منزل د قلب نه روح اړخ ته روان دے هغه دين الاحی ته رسيدلي يا رسيدو واله دي۔ دوي ته د کتابونو نه نه بلکې د نُور نه هدايت دے او د نُور سره گنا نه را مني کيږي، او چا چې واوريده يا د خوارۍ سره هم د دی مقام نه محرومه دي هغه په دی سلسه کښې شمار نه دي۔ که چرې د ذکر قلب او روح نه بغير يې پخپله ځان په دی سلسله کښې شمار کړو يا يې د هغوي نقل وکړو نو هغه زنديق دے. د عامو خلکو د ښښلو زريعه عبادتونه او مزهبونه دي۔ د هدايت زريعه آسماني کتابونه دي۔ د شفاعت زريعه نبوت او ولايت ده۔ ډير مسلمانان د وليانو شفاعت نه مني۔ خو حضور اصحابه اکرامو ته ويلي وو چې لاړشئ او د اويس قرني نه د اُمت د بخشش د پاره دعا وغواړئ.

# د روحونو دین

## د عشق الاحی او دین الاحی واله پیژندل

په کوم کښې چې ټول دریابونه ضم شي هغه سمندر وي او په کوم کښې چې دینونه ضم شي هغه عشق الاحی او دین الاحی دے.

چرته چې څلور مزهبونه یوځای کیږي (کلام - سلطان حق باهو)

## رومبنی پیژندنه :

چې کله د قلب او روح ذکر روان شي ـ که د عبادت نه وي یا د یو کامل د نظر نه په دواړو حالتونو کښې هغه ازلي دے، د ګناهونو نه نفرت پیدا شي که ګناه وشي هم نو په هغې ملامت وي او د هغې نه د بچ کیدو د ترتیب فکر کوي

ځما هاغه خلک هم خوښ دي چې د ګناهونو نه د بچ کیدو د پلانونو فکرونه کوي - (فرمان الاحی)

د دنیا مینه د زړه نه وتل او د الله د محبت غلبه شروع شي. حسد، حرص، بخل، او تکبر نه خلاصون محسوس شي ـ د چا غیبت نه کوي،عاجزي محسوس شي، د کنجوسۍ پر ځای سخاوت او دروغ کمیدل په نظر را شي، حرام خواهشات په نفساني حلال کښې بدل شي، د حرام مال، حرام خوړل، او د حرامو کارونو نه نفرت پیدا شي.

## ډیر پیژندل :

چرس، أفیون، هیرویین، تمباکو او د شرابو وغیره نه مکمل خلاصون پیدا شي ـ د مقدس هستیانو سره په خوب، مراقبه، یا د مکاشپې په زریعه ملاقاتونه وشي، د نفس اماره نه نفس مطمئنه جوړ شي، لطیفه انا رب ته مخامخ الله او د بنده په مینځ کښې ټول حجابات وچت شي.

ځکه چې په دی سلسه کښې د بیلا بیلو مزهبونو نه راغلي خاص روحونه شمار وي، چې هغوي د ازل په ورځ کلمه ویلي وه ـ دي دپاره د یو مزهب بندیز نشته ـ هر سړے د خپل مزهب عبادت کولے شي، قلبي ذکر به د ټولو یو وی یعني د مختلفو مزهبونو باوجود به د زړونو سره یو شي، بیا چې کله په زړونو کښې الله راغلے نو ټول به یو شي، د دی نه پس د رب خوښه ده دوي د خپل ځان سره ساتي یا که یې یو مزهب ته د هدایت دپاره لیږي، ـ یعني څوک به مفید وي، څوک به منفرد، څوک سپاهي او څوک به سالا ر وي، د دوی مدد او ملاتړ کولو واله ګنهګار به هم څه نه څه مرتبې ته ورسیږي. چې کوم خلک په دی ټولګي کښې ورګډ نه شو د هغې نه به زني د (دجال) ملاتړ وکړي هغه که مسلمان وي که غیر مسلمان، په اخر کښې به د دې دواړو ټولګو غوره جنګ وي. عیسیٰ، مهدي کالکی اوتار واله به په یو ځاې دوی له ماتې ورکړې ډیر دجالیان به مړه شي چې کوم پاتې شي هغه به د ډاره او مجبورۍ د وجی نه غلي اوسیږي ـ د مهدي او د عیسیٰ به د خلکو په زړونو راج وي ـ په ټوله دنیا کښې به امن قائم شي بیل بیل مزهبونه به ختم شي او په یو مزهب کښې به بدل شي ـ هغه مزهب به د رب د خوښې د ټولو نبیانو د کتابونو نچوړ، د ټول انسانیت دپاره قابل قبول، د ټولو عبادتونو نه افضل، تر دي پورې چې د الله د محبت نه هم افضل، عشق الاحی به وي.

چرته چې عشق رسول کوي ایمان تري بي خبر وي - (باهو)

علامه اقبال د دی وخت دپاره نقشه راښکلې وه:

دنیا ته د هغې مهدي برحق ضرورت دے
چې د هغه نظر به په عالم افکار کښې زلزله جوړه کړي

پرانستل کیږي به هاغه پټ رازونه ـ لاړلے د حدیثونو وخت،
د چا ځان چې ړومبنے ښکاره شوے ـ هغه مهدي او هغه اخر زمان،

سترګې دي پرانیزه ځما د آئین په درک کښې د راتلونکې وخت یو خړ غونډې تصویر اوګوره ـ
لولاک لما وګوره ـ ځمکه وګوره، آسمانونه وګوره، د مشرقه راځرګنده لمر ته وګوره.

تیر شو وس هاغه وخت ساقي چې پټ به یې څښل څښلو واله،
جوړیږي به ټول جهان میخانه هریو به شرابي وي،
زمانه راغلي د بي حجابۍ د یار دیدار به عام وي،
چپتیا چې د کومې رازدارئ وه هغه راز به وس ښکاره شي،
لاړےد صحرا نه چا چې د رومت بادشاهي او لته کړي وه،
اوریدلي مې د قدسیو نه دي چې هغه زمرے به بیا هوښیار وي،

ټول آسماني کتابتونه صحیفې د الله دین نه دے ـ په دی کتابونو کښې مونځ، روژه، او ګیري دي او الله د دی پابند نه دے، دا دین یې د نبیانو د اُمتونو د مونور او د پاکیدو دپاره جوړ کړي، او الله پخپله خالص نُور دے او چې کله یو انسان د وصل نه پس نُور جوړ شي نو بیا هغه هم د الله دین ته لاړ شي ـ د الله دین مینه محبت دے د( نهه نوي) نومونو ترجمه د خپلو دوستانو ذکر کولو واله دے، پخپله عشق، پخپله عاشق، پخپله معشوق دے ـ که چرې یو د الله بنده ته هم د هغه د اړخ نه په دی کښې څه حصه عطاء شي نو هغه دین الاحی ته رسیږي ـ بیا د هغه مونځ دالله دیدار او د هغه شوق ذکر الله دے تر دي چې د هغه د ژوند ټول سنتونه او د فرائضو کفاره هم دیدار الاحی دے ـ چې د هاغه پرښتو او انسانانو شریک عبادت هم دهغه درجې ته نه شي رسیدلے ـ

د داسي سړي د پاره شیخ عبدالقادر جیلاني فرمایلي وو چې :چې چا د وصال نه پس عبادت وکړو یا یې اراده وکړه نو د کفرانِ نعمت وکړو ـ

بُلے شاه فرمایلي :چې د کله نه ما د عشق د مونځ نیت کړے دے نو ما مندر او جومات هیر کړے دے.

علامه اقبال ویلي : دے به ته څه پوهه کړي غریب د دوو رکعتو امام.

د دی علم په اړه ابوهریره فرمایلي :چې ماته د حضور نه دوه علمونه عطاء شوي، یو مي تاته بیان کړو که چرې دویم درته بیان کړم نو ته به ما مړ کړي ـ

تاریخ ګواه دے چې چا هم دا علم بیان کړے، د شاه منصور او د سرمد په شان مړه شول او نن ګوهر شاهي د دی علم د وجی نه د مرګ په غاړه ولاړ دے ـ

د نبیانو د شریعت بندیز د اُمت دپاره وي گني دوی ته د عبادت هاجت نه وي، هغه د شریعت نه مخکې بلکې د ازل د ورځې نه نبي وي، خو دوی دین د نمونې په توگه پوره کوي، د دوی د څه یو رکن د پرېښودو یا د فعل نه هم اُمت سنت جوړوي، د دی وجې نه دوي ته محتاط او په غور اوسیدل پکار وي، آیا یو سړے داسې ویلے شي که هریو نبي که چرې عبادت نه کوي نو ولي هغه دوزخ ته تلے شي؟ هرکله نه، یوسړے داسي ویلے شي چې د عبادت نه بغیر نبي نه شي جوړیدے؟ یا څوک داسي هم ویلے شي چې د علم د زدکړې نه بغیر نبوت نه میلاویږی؟ بیا په ولیانو اعتراضونه ولي کیږې؟ او ولایت د نبوت نعم البدل دے. یاد ساتئ چا چې د رب د دیدار نه بغیر د وصال دعوه کړي یا یې ځان په دی مقام تصور کړے نقل کړے، هغه زندیق او کاذب دے ـ او قرآن په داسي دروغجنو لعنت ویلے دے چې د چا د وجی نه په زرگونو ایمانونه او وختونه برباد شو.

دا کتاب د هر مزهب او هریوي فرقې او هر سړي دپاره قابل غور او قابل تحقیق دے
او د روحانیت د منکرانو د پاره یو چیلنج دے.

*****

## دګوهرشاهي فرمانونه

دري حصی د علم ظاهر دي، او یوه حصه د علم باطن ده ـ
د ظاهري علم حاصلولو دپاره موسیٰ او د باطني علم دپاره خضر لټول غواړي ـ

.....................

د جبرائیل نه بغیر چې کوم اواز راغلے هغې ته الهام، او که علم هغې ته صحیفې او حدیث قدسي وایي ـ
او د جبرائیل سره چې کوم علم راغلے هغې ته قرآن وایي هغه که ظاهري علم وي او که باطني علم یې، هغې ته توریت وایي، زبور وایي، انجیل وایي ـ

.....................

د علماو نه که چرې غلطي وشي هغې ته سیاست وایي او خلاصون حاصل کړي،
د ولیانو نه که چرې غلطي وشي هغه په حکمت وګڼي او نامنظور یې کړي ـ
او په نبیانو د غلطۍ دفعه نه لګي ـ

.....................

چې څوک په کوم شغل کښې دے دننه د هغه روحونه څواکمن دي، او چې څوک په یو کار کښې هم نه دے د هغه روحونه اوده او بې حسه دي، او چا که په هره طریقه د الله نوم په دی روحونو کښې دننه کړو، بیا د هغوي شغل هروخت ذکر سلطاني او عشق الله دے:

.....................

ځکه علامه اقبال ویلي وو : که چرې عشق یې نو کافري هم مسلماني ده.
سچل سایی ویلي وو: بغیر د دلبر د عشق نه کفر څه دے او اسلام څه دے.
سلطان باهو ویلي وو: چرته چې عشق رسول کوی ایمان تري بې خبر وي.

داسې خلک چې کله په یو مزهب کښې وی یا څې نو د هغوي د برکته په هغې سیمې باندې د رحمت باران وریږي ـ بیا هغه که بابا فرید وي نو هندو، سیک هم د هغه په درشل راځي که بابا ګرونانک یې نو مسلمان، عیسائی هم د هغه په درشل راځي.

## امام مهدي به د ټولو مزهبونو تجدیدکوي

چې څنګه د حضور پاک د ختم نبوت نه پس مجدد راغلل او د چاپیریال مطابق یې په دین کښې څه بدلون وکړو، دغسې به د امام مهدي علیه السلام راتلو نه پس دهغې (مجددانو) تجدید ختم کړے شي ـ او د ټولو مزهبونو مطابق به د امام مهدي خپل تجدید وي ـ په زیني کتابونو کښې دي چې هغه به یو نوے دین جوړوي.

که چرې څوک ټول عمر عبادت وکړي او په اخر کښې يې د امام مهدي او حضرت عيسیٰ مخالفت وکړو چې هغوی به دنيا ته په دويم ځل راځي (عيسیٰ به د وجود سره، او امام مهدي به د ارضي ارواح په زريعه راځي) نو هغه د بليعم باعور په شان دوزخي او د ابليس په شان مردود دے ـ که چرې يو سړی ټول عمر د سپي په شان ژوند تير کړو خو په اخر کښې يې د هغه ملګرتيا او د هغه سره محبت وکړو نو هغه به د سپي نه قطمير جوړ شي او جنت ته به ځي.

زيني فرقی او مزهبونه وايي چې عيسیٰ مړ شوے دے او په افغانستان کښې د هغه مزار دے ـ دا د دروغو پروپاګنډه ده، په افغانستان کښې په دی نوم د يو بل بزرګ مزار دے ـ په هغې پيادل زمانه کښې په مياشتو مزل کول او دفن کول څه مقصد لري؟ بيا هغه وايي : آسمان ته يې څنګه وچت کړو؟ مونږ وايو آدم عليه السلام يې د آسمان نه څنګه راکوز کړو؟ او ادريس هم د ظاهري وجود سره د وسه پورې په جنت کښې موجود دے، خضر او الياس چې په دنيا کښې دي هغوي ته هم د وسه پورې مرګ نه دے راغلے، د غوث پاک نوسے حيات الامير د (شپږ سوه) کاله نه ژوندے وو ـ غوث پاک ويلي وو : د هغې وخته پورې مه مره چې تر څو ځما سلام امام مهدي ته ونه رسوي، شا لطيف ته د بری امام لقب هغه ورکړے وو ـ د مری اړخ ته باره کو کښې د هغه د بيټک نښه د وسه پورې خوندي ده.

د ظاهري ګنا سزا زندان، جرمانه، يا يوه ورځ ځوړندول دي ـ که چرې څوک د فقر په لاره کښې دے نو د هغه سزا ملامتي ده ـ او د باطني ګناهونو سزا ډيره زياته ده ـ د غيبت کولو واله جرمانه د هغه د نيکو نه دويم ملګري ته نيکی شماريږي ـ حرص، حسد، بخل او تکبر د هغه نيکی ورانوي ـ که چرې په هغه کښې څه نُور وي نو د نبيانو وليانو د ګستاخی سره تری اخستل کيږي ـ لکه څنګه چې شيخ صنعان د شيخ عبدالقادر جيلاني د ګستاخي کشف او کرامات منفي کيدل ـ

يوه واقعه ده چې کله بايزيد بسطامي ته پته ولګيده چې يو سړے د هغه بد وايي نو هغه ده ته وظيفه مقرر کړه ـ هغه به وظيفه هم اخستل او بد به يې هم ويل ـ يوه ورځ د هغه ښځې وويل : نمک حرامي پريږده يا وظيفه پريږده ـ بيا هغه صفت کول شروع کړل، هغه ته چې د صفت پته ولګيده نو د هغه وظيفه يې بنده کړه ـ بيا هغه د ده په خدمت کښې حاضر شو ـ چې بد به مې ويل نو وظيفه به راته ميلاويده، وس د صفت د وجی وظيفه ولي بنده شوه؟ هغه وفرمايل، ته هاغه وخت ځما مزدور وي، ستا د بدی سره به ځما ګناهونه سوځيدل، ما به د هغې تاله بدله درکوله، وس د څه شي بدله درکړم؟ د پاسني بدو تعلق د نفس اماره سره دے ـ چې د هغه مدد کونکے ابليس دے ـ تقوا، سخاوت، معافی، صبر، شکر، عاجزي، او د انوارِ الاحی تعلق د قلب شهيد سره دے، چې د هغه مددګار ولی مرشد دے ـ

چې تر کومه نفس اماره دے د يو پاک کلام نُور په زړه کښې نشي حساريدے، بی له شکه د الفاظو، د آياتونو حافظ دي ولي جوړ نشي، بس طوطي دے ـ چې کله ستا نفس مطمئنه شي بيا ناپاک څيز ستا دننه نه شي وردیدلے، بيا ته چرګ بسمل يې، د نفس د پاکيدو د پاره يو نفس شکن ولټوه، چې هر وخت د الله د اړخ نه په ډيوټۍ لګيدلے وی، د وجود بهر پاکوالے د ابو سره کيږي، او د وجود دننه پاکوالے د نُور سره کيږي، د پاکوالي نه بغير ناپاک دے، پاک وجود د الله د عبادت قابل وي، او پاک زړه د الله د تجلياتو قابل وي، بيا آسماني کتابونه پاکو ته هدايت کوي (هدی للمتقين) ګني کتابونو واله د کتابونو واله دښمنان جوړيږي ـ مجدد الف ثاني په مکتوبات کښې ليکلي

:قرآن د هغي خلکو د ويلو لائق نه دے چې د چا نفس اماره دے ـ مبتدی له پکار دي چې د الله ذکر کوي يعنې دننه وجود پاک کړي، منتهي له پکار دي چې بيا قرآن ولولي.

*حديث : زيني خلک قرآن لولي او قرآن په هغو لعنت کوي ـ*

*بُلے شاه : چا چې قرآن په خپل ترخ کښې نيولے دے هغوي د هرڅه خوړلو باوجود د خپلی خبرې نه منکر شو.*

عابد ته دا گمان دے چې هغه د الله دپاره عبادت او شپې روڼوي ځکه هغه الله ته نزدي دےـ د عبادت نه پس ستا دعاگانې، روغتيا، لوی ژوند، مال دولت، او د حورو دپاره وی ـ

غور وکړه : تا چرته دا دعا غوښتلي ده، چې اے الله ځه حس نه غواړم بس تا غواړم؟

عالم ته دا گمان دے چې زه د الله په قرب کښې بخلے شوے يم ـ ځکه چې ځما دننه قرآن دے، بيا ته نورو ته جهنمي ولي وايي،، ځکه چې هر مسلمان ته څه نه څه علم او د قرآن ډېر صورتونه ياد وي ـ فکر وکړه : علم څوک خرڅوي؟ ځان څوک خرڅوي؟ د وليانو غيبت څوک کوي؟ حسد، تکبر، او شومتوب څوک کوي ؟ زړه کښې يوه ، او په ژبه بله دا د چا قصب دے؟ رښتيا ته دروغ او دروغو ته رښتيا څوک وايي؟ که چرې ته د دی نه لري يې نو د رسول الله خليفه يې ـ ستا اړخ ته شاکول هم بې ادبي ده ـ

*يعنې هسې په نظر قاري راځي خو په حقيقت کښې قرآن دے.*

که چرې ته په دی خصلتونو کښې ډوب يې بيا ته هاغه يې د چا دپاره چې ليوه ويلي وو که چرې يوسف ما خوړلے وي نو الله دی ما د څوارلسمې صدی په عالمانو کښې راپاڅوي.

## صراط مستقيم

(1) د چا چې ظاهر ښه او باطن تور دے په مزهب کښې فتنه ده د ابليس ملگرے دے ـ

*حديث :د جاهل عالم نه وويريږئ او لرې شئ تري، د چا چې ژبه عالمه او زړه تور دے.*

(2) باطن ښه او ظاهر خراب دوی ته مجزوب، معزور، سکر او منفرد وايي ـ

*په عشق کښې چې عقل پاتې نه شو نو حساب د څه (ترياق قلب)*

د مزهب دپاره ستونزې خو د الله په قرب کښې وی خو نوره مرتبه نه شي حاصلولے، بغير د مرتبې تصديق نقل کونکے زنديق ـ صدر ايوب، بې نظير، او نوازشريف غوندي د هغوي د وخت حکومت کښې به يې په لښتو وحل او کنځلې به يې ورته وکړې ـ ته د يو اقتدار صاحب په ډانگې ووهه څه، يعنې دا خالص د هغوي د زات پورې محدود وي د نورو دپاره نه.

(3) ظاهر سم باطن هم سم د ظاهري عبادت نه علاوه په قلبي ذکر کښې هم وي، دوی ته عالم رباني وايي، يعنې د منبر رسول او د دين وارث وي، او چې کله د چا ظاهر او باطن يو شي هغه ته نائب الله وايي، که چرې په خوب کښې يا په روحاني طور باندې حج کوي نو ظاهر کښې هم هغه درجات ميلاويږی، بلکې د ظاهري حج نه ډېر زيات، د روحونو مونځ د ظاهري مونځ حيثيت لري. بلکې ډېر زيات، که چرې په ظاهر کښې مونځ کوي نو په باطن

کښې هم د ده مونځ معراج جوړیږي، دا هاغه خلک دي، وجود دلته او روح الته، د فقر په محکمه کښې ده ته معارف هم وايي ـ او د عاشق د پاره د رب دیدار پوره دے، زینې خلک وايي دیدار کیدلے نشي، خو دا دیدار واله علم د حضور پاک نه شروع شوے دے ـ په وینا د امام ابوحنیفه :ما( نهه نوي) مرتبه الله لیدلے دے ـ بایزید بسطامي وايي : ما( اویا) مرتبه د رب دیدار کړے دے ـ دیدار د لطیفه انا سره کیږي ـ او ته د انا د تعلیم او ذکر نه نا خبر يې.

## د الله دوست

که چرې څوک د الله مخلوق کشف کرامات او فیض د وجې نه ولي مني، خو د هغه د څه فعل یا مزهب د وجې نه ته نا امیده يې نو غوره دا ده چې ته هلته تلل مه کوه ـ هسي نه چې هغه د الله منظور وي، شیخ بقا يې، یا که لعل شهباز يې، که خضر وی، یا ساهے بابا وی، یا گرو نانک يې که څوک بُلے شاه وي او څوک سدا سهاگن هم کیدے شي.

## دګوهر شاهي د عالم انسانیت دپاره انقلابي پیغام

مسلمان وايي چې زه د ټولو نه أعلیٰ یم ـ او یهودي وايي څما مقام د مسلمان نه هم وچت دے ـ او عیسائی وايي زه د دوی دواړو نه بلکې د ټولو مزهبونو واله نه لوی یم ځکه چې زه د الله د زوی امت یم، خو گوهر شاهي وايي چې د ټولو نه غوره او لوي هغه دے چې د چا په زړه کښې د الله محبت دے ـ هغه که د هر مزهب نه ولي نه وي، د ژبې سره ذکر مونځ د هغه د اطاعت او فرمان بردای ثبوت دے، او قلبي ذکر د الله د محبت او رابطې وسیله ده ـ

بغیر تصدیق نقل کونکے زندیق په دروغه د نبوت دعوه کونکے کافر دے او په دروغه د ولایت دعوه کونکے کفر ته نزدی دے، ولی دوست ته وايي او د دوست یوبل لیدل او همکلام کیدل لازمي دي، حضور هم یو واري اصحاب اکرامو ته فرمایلي وو چې څه کارونه خالص څما د کولو دپاره دي، ستاسو دپاره نه دي، د هر مونځ کونکې دغه دعا وي چې اے الله ماته د هغې خلکو نیغه لاره وښایه چې په چا ستا انعام شوے دے، چې تر کومه د هغه روح په بیت المعمور کښې مونځ ونکړي څه ته چې حقیقي مونځ وايي ځکه چې هغه مونځ د مرگ نه پس هم کیږي، لکه څنګه چې په شب معراج کښې هم ټولو نبیانو مونځ کړے وو، او چې تر کومه پورې د رب دیدار ونه شي د هغې وخته پورې د شریعت اتباع ضروري ده، البته د ناراسته او ګنهګارو دپاره هم الله څه نعم البدل جوړ کړے دے ـ د الله د نوم قلبي ذکر هم د ظاهري عبادت او گناهونو کفاره کوي، او کله نا کله هغه د الله دوست او روښانه ضمیر واله جوړوي.

چې ستاسو مونځونه قضا شي نو د الله ذکر کوئ<br>په ولاړه، په ناسته، تر دي چې په ډډه اوړیدو سره هم (القران)

د ولیانو قرب، نظر، او دعا هم د ګنهګارو نصیبه روښانه کوي او د دوزخ نه يې بچ کوي، لکه څنګه چې حضور پاک د اُمت د ګنهګارو د بخښنې دپاره د حضرت اویس قرني خواله د دعا دپاره أصحابه ورلیږلي وو ـ د سخاوت، ریاضت، او شهادت سره هم د ګناهونو کفاره او ښنه کیدلے شي ـ عاجزي، طوبه، او جړاګاني هم د الله خوښ دي.
چې د هغې د وجې نه د نصوح په شان دکفنونو غل او د مړه شوؤ ښځو بې حرمتي کولو واله وښښل شو (القران)

یوه ورځ عیسیٰ د شیطان نه پوښتنه وکړه چې ستا غوره دوست څوک دے؟ هغه وویل : کنجوس عابد، چې هغه څنګه؟ د هغه کنجوسي د هغه عبادت ځایه کوي، بیا یې پوښتنه وکړه : ستا غټ دښمن څوک دے؟ هغه وویل :ګنهګار سخي، چې هغه څنګه؟ د هغه سخاوت د هغه ګناهونه سوځوي ـ د الله د بندیانو او د الله د مخلوق سره مینه کولو واله او خیال ساتلو واله، د حق ملاتړ او انصاف واله خلک هم د الله د نظر کرم قابل کیږي ـ

علامه اقبال د دریم څلورم جماعت طالب علم د مکتب نه واپس راتلو چې یو سپے ورپسې شاته روان شو، هغه په پوړو وختو او هغه د بې هسی نه ورته کتل، هغه فکر وکړو کیدے شي چې وږے دے ـ د هغه پلار د هغه دپاره یوه پراټه کیښی وه، هغه نیمه سپي ته واچول هغه سمدستي تیره کړه، بیا یې د بې هسی نه کتل ـ هغه پاتې شوي نیمه هم هغه ورواچول ـ او پخپله تږوله ورځ وږے پاتې شو ـ د شپې د هغه پلار ته زیرے میلاو شو چې ستا د زوی عمل ځما خوښ شو ـ او هغه منظور نظر شو ـ

چې کله سبکتګین د هوسی بچے د ځنګل نه وچت کړو او روان شو نو ویې کتل د اس شاته شاته هوسی هم منډې وهي ـ سبکتګین ودریدو ویې لیدل هوسی هم ودریده او خپله خوله هغې د آسمان اړخ ته اوچته کړه ـ سبکتګین ولیدل چې هغه وخت د هغې اوښکې بهیدلې ـ او سبکتګین هغه بچے ازاد کړو ـ د دی واقعې نه پس په سبکتګین دومره د الله کرم وشو د الله په نوم به اکثر جړیدو.

*مولانا روم وایي : یک زمانه صحبت با اولیاء........ بهتر است صد ساله طاعت بے ریا*

*( د ولی د یوي شیبې صحبت د سلو کالو د بیکاره عبادت نه غوره دے)*

حدیث قدسي : څه د هغه ژبه جوړیږم په څه چې هغه خبرې کوي، د هغه لاس جوړیږم په څه چې هغه نیول کوي ـ

ابوذر غفاري : په یوم محشر کښې به خلک ولی ویپیژني او وایي به اے الله ما ده ته وضو کړي وه، جواب به راشي دے وبښی، دویم به وایې یا الله ما د ته جامې اغوستې یا پرې ډوډۍ خوړلې وه جواب به راشي دے هم وبښی، دغسې به ګڼ شمېر خلک وبښلے شي ـ حدیث قدسي : چا چې ځما د یو ولی سره دښمني وکړه زه به دهغه خلاف اعلان جنګ کوم ـ د الله جنګ د یوې ورځې سر پریکول نه وي بلکې د هغه ایمان پریکوي ـ چې په راروان تږول ژوند کښې به یې په دوزخ کښې د اذیت نه سر پریکیګي، لکه څنګه چې بلیم باعور کوم چې ډېر لوی عالم او عبادت ګزار وو، د موسیٰ د دښمنۍ ده وجی نه یې دوزخ ته وغورځولو، خلک وایي :رب د عبادت سره میلاویږی، مونږه وایو رب د زړه سره میلاویږی، عبادت د زړه د پاکولو زریعه ده، که چرې د عبادت سره زړه پاک نه شو نو ته د رب نه ډېر لرې یې، حدیث: زه نه عملونو ته ګورم نه شکلونو ته بلکې نیتونو او قلوب ته ګورم ـ البته د عبادت سره جنت میلاویږی ـ خو جنت هم د رب نه ډېر لرې دے ـ دا علم باطن خالص د هغې خلکو دپاره دے ، چې کوم د حورو او د جنت د پروا نه بغیر د رب سره محبت، قرب، او وصال غواړي ـ

بیا په وینا د سوره کهف : الله هغوي د یو ولی مرشد سره میلاوهی ـ

چې الله تعالیٰ د یو بنده د هرې یوې ادا نه مهربانه شي نو هغه ته ډېر په مینه ګوري ـ د هغه د مینې سره کتل د بنده ګناهونه سوځوي ـ د هغه سره ناست خلک هم د نظر رحمت په زد کښې راځي ـ د رب دوستان اصحابِ کهف وده وو یا مراقبه کښې وو ـ الله به هغوی ته په مینه کتل چې د هغې د وجی نه د هغوي ملګرے سپے هم حضرت قطمیر جوړ شو او جنت ته به ځي ـ چې کله شیخ فرید د الله په نظر رحمت کښې راغلے نو ناست شپونکے ورسره هم رنګ کړے شو. چې کله الله د ابوالحسن په څه ادا مهرو بانه شو نو د همکلامی سلسله شروع شوه. یوه ورځ یې هغه ته وویل اے ابوالحسن که چرې ستا متعلق څه خلکو ته ووایم نو تا به خلک په کاڼو او ولي او هلاک به دی کړي،

هغه په جواب کښې ووېل : که چرې زه ستا متعلق خلکو ته ووایم چې ته څومره مهروبانه یې تا ته به څوک هم سجده نه کوي، رب ووېل : داسي وکړه مه ته وایه او نه به زه وایم ـ

چې کله یې په دریم ځل زید د شرابو په جرم کښې راوستلو نو اصحابو ووېل : په د باندې لعنت، هر وخت په دی جرم کښې راځي، حضور وفرمایل په ده باندي لعنت مه وایی دا د الله او د هغه د رسول سره محبت کوي، چې څوک د الله او د رسول سره محبت کوي، هغه به دوزخ ته نه ځي ـ

بي له شکه چې الله د ټول مخلوق سره مینه کوي، او د ټول مخلوق خیال ساتي

معزور چنجي ته په کاڼي کښې هم رزق رسوي، څنګه چې نافرمان اولاد ازار واخلي، دغسې د نافرمانو او ګستاخانو دپاره هغه قهار جوړیږي ـ

یقین وکړه تا هم رب لیدل غواړي خو ته نه پوهېږې لا پروا یا بدبخت یې، څه ته چې خلک ګوري هغه ته هره ورځ په صابن وینځي هره ورځ کریم لګوي او خط جوړوي، او څه ته چې رب کتل غواړي تا چرته هغه هم وینځلے دے؟

حدیث : د هر څیز د وینځلو دپاره څه نه څه اله وي او د زړونو د وینځلو د پاره د الله ذکر دے.

د پاک محبت تعلق هم د زړه سره وي د ژبې سره I Love You ویلو واله مکار وی ، محبت کولے کیږې نه......کیږې، چې څه هم زړه ته کوز شي ـ رب زړه ته د کوځولو د پاره تصور، قلبي ذکر او د الله ولی وي ـ خالي د ګاډي انجن منزل مقصود ته نه شي رسیدلے چې تر کومه نور څیزونه یعني اسټیرنګ ټائر وغیره نه وی ـ دغسې مونځ هم د تزکیه نفس او تصفیه قلب نه بغیر نمګړے دے ـ که د دی لوازماتو نه بغیر مونځ هرڅه....... او جنت دے بیا ته نورو ته کافر، مرتد او دوزخي ولي وایې، ځکه چې هغه هم مونځ کوي ـ توپیر دا دے چې څوک د دجال په خره ناست دے او څوک د عیسیٰ په خره ناست دے، یعنې ده دنني نه دواړه تور دی ـ خالي د عقیدو توپیر دے، او عقیدې به دلته پاتې شي دننه روحونه به په مخکې ځي ـ په ژبه مونځ او په زړه کښې خرافات, حرص، حسد دي ته د مونځ صورت وایي، عام خلک په دی خوشحالی کښې مبتلا اوسیږي ـ او د فرقه بندی ښکار کیږي ـ د دوی په دین کښې تبلیغ فتنه جوړیږي ـ فرض که ته لس پنځلس کاله په یوه فرقه کښې پاتې شوي او عبادت دي وکړو، بیا تا دویمې فرقې ته سحي اووي او پاتې شوي پکښې ـ د دی دا مقصد چې ستا ړومبنی فرقه باطله وه، د باطل عبادت خو نه قبلیږي یعنې ستا لس پنځلس کاله عبادت بیکاره شو کیدے شي هغه نوي فرقه هم باطله وي، بیا وروستی هم لاړه او مخکنی هم لاړه، چې سترګې یې ورله کولاو کړي نو د پل د غویي په شان په ځاي چورلیدو ـ د ژوند بربادولو نه غوره وه چې یو کامل مرشد یې لټولے وے.

## دګوهر شاهي عقیده

د ټولو مزهبونو نیکان او عبادت ګزار که په یو قطار کښې ودرولے شي، او رب ته ووېل شي چې چاته به ګوري؟ چې څنګه ستا نظر په روښانه ستورو باندې لګي، هغه که مریخ وي یا عطار یا بې نومه ستوري، دغسې رب هم روښانه زړونو ته ګوري، هغه که مزهب واله وي یا بې مزهبه !

سچل سرمست :بغیر د دلبر د عشق نه څه کفر او څه اسلام!

ته د رب په لټون کښې مندرونو، چرچونو، جوماتونو، وغیره ته منډې وهې، ولې په تاریخ کښې څه ثبوت شته چې رب چا هم په یوه عبادت خانه کښې ناست لیدلے وي؟ اے نادانه، د الله کور ستا زړه دے، دے زړه ته راوله، بیا

گوره دا عبادت خانې او په دی کښې عبادت کولو واله به ستا اړخ ته رامنډې وهي، بایزید بسطامي فرمایلي : د یوې مودې نه مې د کعبې طواف کولو، چې کله رب ماته دننه راغلے نو د یوې مودې نه کعبه ځما طواف کوي، دا عبادت خانې ثواب خانې دي، خو دا زړه مرکز دے، په عبادت خانو کښې به یې

ته یا دوې، او رب به په زړونو کښې یادول کوي،

د عقل واله په نصیب کښې چرته د لیونتوب جزبه وي

دا خو عشق واله دی چې هر خیز خرچ کوي

د الله الله کولو سره الله نه میلاویږی

الله واله یې چې د الله سره یې میلاو کړې

د هر مزهب واله عقیده ده چې د هغوي د نبي شان د ټولو نه اوچت دے، او دغه عقیده په اهل کتاب کښې د جنگونو سبب جوړه شوه، غوره دا ده چې ته د روحانیت د لارې د نبیانو محفل ته ځان ورسوه، بیا به درته معلومه شي چې څوک په کوم مقام دے او څوک په کومه درجه دے.

## مهم یادونه

هر نبي الله د خاص نومونو سره یاد کړے چې د هغوي د اُمت دپاره پیژندنه او کلمې جوړې شي، دا نومونه د الله په خپلی ژبې سُریانئ کښې وو. د دی د اقرار سره د هغې نبي په اُمت کښې داخلیږي. درې وارې اقرار شرط دے، د امت د داخلیدو نه پس دا الفاظونه چې څومره ډېر یادیږي هغومره به پاکیږي. د مصیبت په وخت کښې د دی الفاظونو د ادا کولو سره د مصیبت نه خلاصون جوړیږي. په قبر کښې هم دا الفاظ د حساب کتاب د کمې باعث جوړیږي، تر دې چې د جنت د تلو دپاره هم د دی الفاظونو ادا کول شرط دی، هر امت له پکار دي چې د خپل نبي کلمه یاده کړې او صحر ماښام څومره چې کیدے شي هغه وایئ. د هدایت دپاره آسماني کتابونه تاسو په خپله ژبه کښې لوستے شئ خو د عبادت دپاره اصلي کتابونه او اصلي متنونه ډېر فیض رسوي.

## د رسولانو کلمې دادي

د عیسایانو کلمه :

**لااله الا الله عیسیٰ روح الله**

ترجمه :د الله نه علاوه څوک معبود نشته عیسیٰ د الله روح دے

د یهودیانو کلمه :

**لا اله الا الله موسیٰ کلیم الله**

ترجمه : د الله نه علاوه څوک معبود نشته موسیٰ د الله سره خبرې اترې کوي

ابراهیمي کلمه :

**لا اله الا الله ابراهیم خلیل الله**

ترجمه :د الله نه علاوه څوک معبود نشته ابراهیم د الله دوست دے

د مسلمانانو کلمه :

**لا اله الا الله محمد رسول الله**

ترجمه : د الله نه علاوه څوک معبود نشته محمد د الله رسول دے

د هندوانو او سیکانو دین د آدم او نوح یوه لړی ده. د آدم حجر اسود(کانې) د ته تعظیم کولو سره په دوي کښې هم کانړو ته د سجدو رواج شروع شو. د نوح د کشتی نه بچ شوي خلک هم هندوستان ته لاړل او تبلیغ یې کړے وو او د خضر نه هم د دوی گروگانو ته فیض میلاو شوے وو ،او د دوی په دعاگانو کښې د آدم (شنکرجی) او خضر (وشنو مهاراج) نومونه شامل دي.

هر مزهب واله هغه که هره یوه ژبه وایي خو دا کلمې د الله په سُریانۍ ژبه کښې د هغه پیژنده او نجات دے. د عام انسان د پاره هره ورځ لږ تر لږه [درې دیرش] ځله الله او رسول صحر او ماښام یادول پکار دي. د دنیاوي مصیبتونو نه د بچ کیدو دپاره هره ورځ [نهه نوي] ځله صحر او ماښام یا چې څومره کیدے شي. د مصیبت د لرې کولو دپاره [پنځه زره] [پنځویشت زره] یا [دوه اویا زره] ډېر خلک یې په یوه ناسته کښې ویلے شي ـ آخري حد یې [یو لاک پنځویشت زره] دے

د زړه د پاکوالي او د گناهونو د داغونو د ختمولو دپاره د ساه تکرار د ساه اخستلو وخت کښې لا اله الا الله او د ساه راوستلو وخت کښې باقي مخکې حصه ولولۍ. د ساه راوستلو وخت کښې چې غور د زړه په اړخ وي. د الله سره محبت او قرب حاصلولو دپاره دویمه طریقه ده چې د رب د رضا نه بغیر گرانه ده. په کتاب کښې د برنۍ طریقې مطابق د زړه د درزاري نه تسبیح جوړول غواړي او د درزاري سره خالص د الله لفظ میلاوهل غواړي. چې څومره کیدے شي هره ورځ د دی هم مشق کوۍ. د چا د غور په زریعه، دچا د بغیر د غور نه هم او د چا د قلب او روح د بیدارۍ نه پس هروخت هم ذکر روانیدے شي.

د الله د دوستانو ذکر هره ورځ [دوه اویا زره] وي او د عاشقانو ذکر د [یولاک پنځویشت زره پورې رسیږي.
که چرې لطائف هم په ذکر کښې ولږې نو د هغه د ذکوریت شمار د کراماً کاتبین د وسه هم نه وي.

څوک په عرش باندې څوک په پرش باندې
څوک په کعبه کښې څوک الله ته مخامخ
(تریاق قلب)

مزهب واله د الله د نوم نه علاوه د نبی نوم هم په زړه کښې د ځاي کیدو کوشش کوی ځکه چې اسم الله په کنټرول کښې وی. وجد، جزب، یا د جلال په صورت کښې د نبي کلمه د هغه وخته پورې لولۍ چې تر کومې هغه حالت ختم نه وي او لیدے شوے مرشد هم په خیال راولۍ ځکه چې دهغه روحاني طاقت په زړه باندې الله نقش کړي. چې د چا یو مزهب هم نشته خدای خبر چې د هغوي نصیبه د چا سره ده یا چرته هم نشته ـ هغه په پیره پیره د مشق په دوران کښې د پنځو مرسلینو د نومونو تصور کوی او چې په کوم یو لیدلے شوي ولی باندې یقین لرې هغه هم په خیال کښې راولۍ بیا تاسو چې د چا یۍ هغه به په تاسو کښې دننه خبرې شورو کړي. یعنې ستا روح، محبت او زړه به د هغه اړخ ته مائله شي.

په یو وخت کښې اهل کتاب په یو پلیټ فارم جمعه شوي وو په خپلو کښې به یې یوځای خوړل، څښل او د یو بل سره د واده اجازت هم شوے وو. دغسې په دی زمانه کښې به اهل ذکر هم یوځای کیږې ـ اهل کتاب واله عارضي

وو ځکه چې کتاب يې په ژبه وو..... لاړلو، او دا به دائمي وي ځکه چې د الله نوم او د هغه نُور به په وينه او زړه کښي وي ـ چې کومه بيماري په وينه کښې لاړه شي بيا چې د چا مينه په زړه کښي کوزه شي ـ د هغي راويستل گران دي ـ

اوبه اوبه دي خو چې کله د يو بل سره مگل کيږي نو بجلي تري جوړيږي، پې د پويو سره مگل کيږي نو کوچ تري جوړيږي، دغسې د آسماني کتابونو د اصلي اياتونو د تکرار سره نُور جوړيږي ـ د آياتونو او صفاتی نومونو د تکرار سره صفاتی نور جوړيږي ـ چې د هغي رسيدل د ملائکو پورې وي چې کوم بِل واسطه دے ـ دا د وحدت الوجود مقام دے ـ خو د الله د ذاتي نوم تکرار او د نُور رسيدل د ذاته پورې دے چې کوم بِلا واسطه دے دا د وحدت الشهود سره تعلق لري.

ډېر خلک د خپل د نبي او وليانو سره ډېره مينه، احترام، او قدر يې کوي خو د نورو مزهبونو د نبيانو وليانو سره بغض او دښمني پالي ـ داسي خلک هم د الله د طرف نه څه مقام نشي حاصلولے ـ ځکه چې د چا بد بيانوي هغه هم د الله دوستان وي او د الله د مرضئ سره په بيلا بيلو مزهبونو او قومونو کښې ټاکلے شوي وي ـ

*****

د یو ازلي روح واقعه :

څه په امریکه کښې د نیمي شپي د یو ځنګل نه تیریدم چې ومې لیدل یو سړے یوې ونې ته مخامخ په سجده شوے او په چغو ژاړي ـ تقریباً یو ساعت وروسته زه بیا راغلم وس هم هغه په هغي حالت کښې وو، زه نزدي ورغلم او ودریدم، هغه زه محسوس کړم او د سجدې نه یې سر پورته کړو او وویل یې :زه دی ډسترب ولې کړم؟ ما ویل :زه هم د رب په لټون کښې یم، خو د ونې نه به ځنګه رب میلاویږی؟ غوره به دا وه چې د یو مزهب د لارې به دې رب حاصل کړے وو، بائبل، قرآن، چې کوم آسماني کتابونه دي زه د هغي (Original) اوریجنل ژبې نه پیژنم او د دی کتابونو چې ترجمې شوي دي، زه د هغي نه مطمئن نه یم، ځکه چې په دی کښې زبردست تضاد دے، چې د هغي د وجی دا یقین نه کیږې چې دا چرته د یو الله د اړخ نه راغلي کتابونه دي، په یو کتاب کښې یې لیکلي چې عیسیٰ ځما زوے دے، او په دویم کتاب کښې دي چې ځما یو زوے وغیره نشته ـ ډیر وخت او ژوند د هغي په مطالعې کښې ځما برباد شو ـ ما وس دویمه لاره اختیار کړې چې دا ونه دومره ښکلې ده د دی مطلب دا چې رب دي سره محبت کوي ـ کیدے شي د دی په زریعه ځما رب ته رسیدل وشي، دا یو مینه ناک روح وو چې د خپل عقل مطابق د رب په لټون کښې وو ـ ولي داسي خلک دوزخ ته تلے شي؟ چې معزور ورته وایي، او دغه به د سپي نه قطمیر جوړیږي ځکه چې د حضرت قطمیر هم څه مزهب نه وو.

(Arizona ) ایری زونا د مس کیترین واقعه اورول چې :

ما د انجیلا نه د ذکر اجازت اخستے وو، انجیلا ویل که په اووه ورځو کښې دننه دننه په زړه کښې الله الله شروع شو نو پوهه شه چې رب ته قبول کړے یې ګني ستا ژوند بیکاره دے ـ چې کله د اووه ورځو د محنت سره ځما ذکر روان نه شو نو یوه شپه ماله ډیره سخته جړا راغله ـ زه ښه په چغو وجړیدم په هغي شپه ځما دننه الله الله شورو شو چې درې کاله نه روان دے ـ کیترین د ژوند قائل نه دے بلکې د روغتیا قائل دے ـ دغسې هغه د مزهب هم قائل نه دے بلکې د هغي د محبت قائل دے ـ د هغه وینا ده چې د دی ذکر د وجی نه ځما په زړه کښې د رب د محبت زیاتوالے کیږي ځما دپاره دغه پوره ده.

د یو هندو ګرو سره ملاقات :

څه هغه وخت د سیون په غرونو کښې ووم، کله نا کله به د لعل شهباز دربار ته تلم ـ یو سړے د دربار نه بهر د وره خواته ناست وو، ډیر هندوان خلک د هغه نه ګیر چاپیره د عقیدت سره ناست وو، پوښتنه مې وکړه دا بزرګ څوک دے؟ وویل یې دا د هندوانو ګرو دے روښانه ضمیر هم دے د ده په زریعه زموږ درخواستونه لعل شهباز ته رسیږي او زمونږه کار کیږي، ډیر مسلمانانو به د هغه عزت کولو، یوه ورځ زه د یوې غونډۍ نه تیریدم چې وه مې لیدل هغه سړي مخامخ بوت کیښودے دے او د سجدې په حالت کښې څه لولي ـ په دویمه ورځ په دربار کښې ملاقات وشو ما وویل ستا غوندي د روښانه ضمیر د خاورو بت ته سجده ځما د پوهي نه بهر ده، هغه جواب راکړو: زه هم دي ته څه رب نه وایم البته ځما عقیده ده او ستاسو په کتابونو کښې یې هم لیکلي دي چې الله انسان په خپل صورت جوړ کړے دے د دی وجی نه زه رنګ په رنګ صورتونه جوړوم او سجده ورته کوم، پته نشته چې کوم صورت به د الله سره میلاو شي ـ هغه وویل ته هم روښانه ضمیر واله یې وایه د الله صورت ځنګه دے او د کوم بت سره میلاویږی؟ ځکه چې هغه زه په زړه کښې ځاي کړم ـ

ځما عمر تقریباً شپاړس اولس کاله وو ـ د خپلي کورنۍ بزرگ بابا گوهر علي شاه په دربار باندې مې یوه ورځ د سوره مزمل تلاوت کولو په دی کښې یو دنگ قد سړے د فقیرئ په جامه کښې ځما مخامخ راغلے او وویل یې لکه خامخا چېي کرپوي بزرگ صورت یې وو زه غلے پاتې شوم، زړه کښې مي دغه وه چې دا خامخا شیطان دے چې ما د تلاوت نه منعه کوي ـ موده تېره شوه چې کله مې ذکر قلب روان شو نو ځما عمر[ پنځه دیرش] کاله شاؤخوا وو ـ په وویلي شوي طریقه مې په ژبه د سوره مزمل آیت لوستو بیا به غلے کیدم ځکه چې زړه هم ولولي بیا به د زړه نه د دی آیت آواز راتلو ـ یوه ورځ په دی مشق کښې لگیا او خوشحاله ووم چې بیا هغه سړے په هغي جامه کښې ظاهر شو او وویل یې وس ته قرآن لولي ـ چې تر کومې پورې تریاق معدې ته لاړ نه شي نو شفاء نه میلاویږی ـ او چې ترکومې پورې د الله کلام زړه ته کوز نه شي نو خبره نه جوړیږي، هغه شعر او وایو،

**ترجمه : د ژبې کلمه هر څوک وایي............زړه واله کلمه زیني زیني وایي**

**د زړه کلمه عاشق وایي............. چې څوک په مری کښې کلمه وایي هغوي ته سه څه پته چې د زړه کلمه څه شے وي**

(سلطان حق باهو)

د داتا دربار په جومات کښې چې کله د مونځ نه وزگار شوم نو ومې لیدل یو بوډا سړي د مونځ کونکو پیزار سمول، ما هم دا محسوس کړه چې د پیزار د سمولو نه علاوه یې مونځ نه دے کړے، ځکه چې زه په وروستي صف کښې وومه، د تلو په وخت کښې ما وویل : تاسو مونځ خو وه نکړو، د دی پیزارونو نه به تا ته څه میلاو شي، ویل یې : مونځ خو مې ټول عمر نه دے کړے وس به په بوډا والي کښې د مونځ نه د بخشش څه امید وه لرم ـ بس یو امید باندې قائم یم چې په دومره خلکو کښې څوک خو به د رب دوست وي، کیدے شي په دی ادا سره هغه یا د هغه یار خوشحاله شی، ما ویل د مونځ نه لویه یوه ادا نشته، ویل یې د یار نه لوي یو شے هم نشته که چرې هغه راضي شي، دري کاله چله کشی نه پس یوه ورځ د حضور محفل نصیب شو، وه مي لیدل هغه سړے د یار په قدمونو کښې وو : بیا دا شعر راغلے چې،

**ترجمه :گنهگار لاړل د یار خواله ......... زاهدان او متقیان ورته په کتو پاتي شو**

25 نومبر 1941 کښې د بر صغير په يو وړوکي کلي ډوگ گوهر شاه ضلع راولپنډي کښې پيدا شوے وو۔ د هغوي والده ماجده فاطمي ده ۔ يعني د سادات کورنۍ د سيّدگوهر علي شاه د نوسو نه ده او نيکه يې د مغليه کورنۍ سره تعلق لري ۔ د وړوکوالي نه د هغوي روخ د اولياء کرامو د دربارونو اړخ ته وو ۔ د هغوي گران والد صاحب فرمايي چې گوهرشاهي به د پنځه شپږو کالو په عمر کښې غائب کيدو او چې مونږ به د ده په لټون پسې تلو دے به د نظام الدين اولياء (نوي دهلي) په مزار کښې ناست وو۔ ماته ډېري پيري دا محسوسه شوه چې لکه دا د نظام الدين اوليا ء سره خبرې کوي ۔ دا د هغي وخت واقعه ده چې کله د حضرت گوهر شاهي گران والد صاحب د ملازمت په سلسله کښې په دهلي کښې مقيم وو۔ په مارچ 1997 کښې چې کله گوهر شاهي انډيا ته تشريف يوړو نو د نظام الدين اولياء د دربار سجاده نشين اسلام الدين نظامي د نظام الدين په اشاره باندې ده ته د دربار په سرخانه کښې دستار په سر کړے وو۔ د ماشومتوب نه به يې يوه خبره کوله هغه به پوره کيده۔ د دی وجی نه به ما د ده هر جائز ضد پوره کولو۔ د دوی گران والد صاحب نور هم فرمايي چې : هره ورځ گوهر شاهي د رواج مطابق صحر به لان (Lawn) ته راتلو نو زه به د ده د راتلو په احترام ودريدم ۔ په دی خبره به گوهر شاهي ځما نه خفه کيدو ويل به يې چې زه ستا زوے يم تاسو داسي مه ودريږئ ماله شرم راځي ۔ خو ځما به هروخت دغه جواب وو چې زه ستاسو دپاره نه بلکې کوم الله چې په تاسو کښې اوسيږي د هغه په احترام کښې ودريږم ۔ د موړه نوړې پرائمري سکول ماسټر امير حسين وايي : ځه په علاقه کښې ډېر سخت استاد مشهور وومه، شرارتي ماشومان به مې وهل او د ده شرارت دا وو چې دا به سکول ته ليټ راتلو او چې کله به ما په غوصه دے وحلو نو ماته به داسي محسوس کيدل لکه چې چا ځما لښته نيولي وي دغسي به ماله خندا راتله ۔

## د حضرت گوهر شاهي د ټولنې او ملگرو نظرونه

مونږه دا چرته د چا سره په جنگ جگړو يا د چا سره په وهلو نه دے ليدلے، که چرې يو ملگري به غوسه کوله او د ده د وهلو دپاره به راتلو نو دا به په خندا شو.

## د حضرت گوهر شاهي زوجه محترمه وايي

اول خو به ده ته غوصه نه راتله او که غوصه به راتله هم نو ډيره زياته به وه هغه به هم ځه په خرابه خبره ۔ د حضرت گوهر شاهي د سخاوت په باره کښې وايي ۔ صحر چې به کله د خپلي کوټې نه بهر تلو نو جيب به يې ډک وو چې واپس به راتلو نو جيب به يې خالي کيدو، ټولي روپۍ به يې حاجت مندو ته ورکولي چې کله به ماته د روپو حاجت شو نو خوله به يې ورانه کړه، دغسې به ماله غوصه راله بيا به مې يې بې گناه مخ ته وکتل نو دا شعر به مې ويلو:ترجمه : د زړه نه ډېر ښښي دے، په ناسته يې په خيال کښې خرچ کوي.

## د حضرت گوهر شاهي د زامنو د ده په باره کښې نظرونه

دا جی به زمونږ سره مينه کوله او خيال به يې راله هم ډېر ساتلو، خو چې کله به مونږه د ده نه روپۍ غوښتي نو هغه به ډېري لږې راکولي او وويل به يې تاسو يې فضول خرچ کوئ، نو مونږه به ويل يا خو زمونږ نه هم فقيران جوړ کړه يا مونږ له روپۍ راکوه ۔

## د حضرت گوهر شاهي د بزرگي مور د ده په باره کښې نظرونه

چې په ماشومتوب کښې به کله سکول ته نتلو يا په ځوانۍ کښې به د کاروبار په وخت کښې کله تاوان کيدو نو ما به دے ملامت کولو، خو هغوی کله هم په اوچت سر جواب نه دے راکړے، او څما بزرګ ککه ميا ډوګ شمس واله به ويله چې : رياض ته کنځلې مه کوئ زه چې په ده کښې څه وينم تاسو ته پته نشته، انساني همدردي يې دومره وه چې که چرې رياض ته به پته لګيده چې اتلس ميله فاصله کښې چرته بس خراب شوے دے نو د هغې خلکو دپاره به يې ډوډۍ تياره کړه او په سائکل به يې هغوی له يوړه له.

## د حضرت گوهر شاهي يو نزدې ملګرے محمد اقبال فضوليا:

محمد اقبال وايي چې د پشکال په موسم کښې د پټو په ورانه پوله تيريدو نو ګڼ شمېر ميږيان په هغې پوله په لړو لړو روان وو، مونږه به په پوله روان وو، او د ميږو خيال به مو نه کولو خو دا به د پولې نه ځان له په خټو کښې روان وو ځکه چې ميږو ته زرر وه نه رسي ـ چې کله يې په ده باندې د مرګ د دروغو کيس جوړ کړو، نو د کرائم برانچ قدوس شيخ د ده انکوائري دپاره راغلے کلي والو هغه ته وويل چې زموږ په نظر کښې خو ګوهر شاهي چرته ماشے نه دے مړ کړے چرته يو انسان!

## حضرت گوهر شاهي او د ده مورجانه

دا ده دي ورځو خبره ده کله چې زه د اتم جماعت طالب علم ووم ـ يوه پيره مورجاني ( چې زاهده، متقي او عبادت ګزاره وه خو حرص، او حسد کښې هم مبتلا وه چې اکثر په عبادت ګزارو کښې وی) هغې وويل په تا کښې ټول هر څه شبه دی خو ته مونځ نه کوي ـ ما جواب ورکړو : چې مونځ د رب ډالۍ ده او زه نه غوارم چې د مونځ سره سره بخل، تکبر، حسد، او کيني ګډون هم الله ته وليږم، چې کله هم مونځ کومه نو سحي مونځ به کومه ستاسو د خلکو په شان نه چې مونځ هم کوي او غيبت دروغ او کبيره ګناه هم کوي ـ

## حضرت گوهر شاهي د خپل ماشوم توب حالات بيان فرمايي

د لسو دولسو کالو په عمر کښې به مې د رب سره خبرې کيدلې، او بيت المعور به په نظر راتلو خو ماته د دی د حقيقت علم نه وو ـ د چله کشۍ نه پس هغه خبرې او هغه نظاري مخامخ راغلي نو په حقيقت پوهه شوم ـ په يو وخت کښې څما يو ماما چې فوج کښې نوکر وو هغه به د طوائفو کورونو ته تلو، د کور واله د منعه کيدو د وجی به هغه زه د ځان سره بوتلم چې هغوی شک ونکړي ـ ماله به يې چاے او بسکټ خوړلو له راکړه، او پخپله به دننه لاړو، خو ماته د طوائفو د کوټو پوهه را پوهه نه وه، ماما به ماته دغه ويل چې دا د ښځو آفس دے څو ورځې پس څما زړه له دغه ځاي نه تور شو، بيا راته ماما وويل چې دا ښځې دي او الله دا د دی کار دپاره پيدا کړي دي، يعني ده څما د ښکيل کولو کوشش وکړو، د ماما د خبرو دومره اثر وشو چې د نفس په کشمکش ټوله شپه وده نه شوم او بيا ناڅاپه مې سترګي ولګيدې ـ

ګورم چې يو غټ چوپال دے او زه د هغي لاندې ولاړ يم، د بره نه د غوسې په شان اواز راځي چې، هغه راولئ ګورم چې ماما مې دوه سړو نيولے او رايې وستو او اشاره کوي چې دا دے هغه بيا اواز راځي دے په ډانګې سره ووهئ بيا دے وهي نو هغه چغې اوباسي جاري او په چغو چغو د ده شکل د خنزير په رنګ جوړ شي ـ بيا اواز راځي که ته هم د ده سره ميلاو شوي نو ستا به هم دغه حال وي، بيا زه توبه توبه کوم او سترګي مې وغړيږي نو په ژبه دغه وي يا الله څما توبه يا الله څما توبه او د څو کاله پوري د دی خوب اثر وو راباندې ـ

د دی په دویمه پیره زه د کلي اړخ ته تلم، په بس کښې ناست ووم وه مې لیدل چې یو څو غله د یوي ټکسي نه ټیپ ریکارډ د ویستلو کوشش کوي ـ ډرائیور مزاحمت کولو نو په هغه یې د چاړو سره وار وکړو او مړ یې کړو دا منظر مې ولیدو زمونږ بس هلته ودریدو او هاغه غلو مونږ ته وکتل او وتښتېدل او ډرائیور په پړېدو زمونږ د مخې ساه ورکړه، بیا مې خیال ته دا راغله چې د ژوند څه بروسه ده، د شپې وده کیدم نو دا شعر له دننه څخه راولاړ شو ـ

*ترجمه : معاف کړه ځما ټولې خطا ګانې، ستا په در کښې راغلم پریوتم.*

ټوله شپه مې په فریاد کښې تیره شوه، د دی واقعې نه لږ وخت پس ما دنیا پرېښوده جام داتا دربار ته لاړم خو د هغه ځاي نه څه منزل راته میلاو نه شو او زه د خپل اوښې د هغه ځاي نه واپس دنیا ته راوستم د [څلور دېرش] کاله په عمر کښې بري امام مخې له راغلے او وویل یې وس ستا وخت دے دوباره ځنګل ته د تلو، د درې کاله چله کشی نه پس چې کله راته لږ څه حاصل شو نو واپس جام داتا دربار ته لاړم، صاحب مزار مخامخ راغلے :ما ویل : که چرې هغه وخت دی قبول کړے وے نو د نفساني ژوند نه به بچ شوے ووم، هغه جواب راکړو :هغه وخت ستا وخت نه وو.

د [نور لس] کاله په عمر کښې جسه توفيق الاحی راسره ولګيدے شوه چې يو کال پاتې شوه د هغې د اثر نه مې جامې وشلولې او په يو لنګوټې کښې جام داتا ځنګل ته تلے ووم.
جسه توفيق الاحی عارضي طور ميلاو شوي وه، چې خوارلس کاله غائب وه او بيا په 1975 کښې دوباره د سيون شريف په ځنګل کښې د راتلو سبب هم دغه جسه توفيق الاحی وه.
د [پنځويشت] کاله په عمر کښې جسه ګوهر شاهي د باطني لښکر د مشر په حيثيت نواز کړے شوه، چې د هغې د وجې نه ابليسی لښکر او د دنيا د شيطانانو د شر نه په امان وو۔ جسه توفيق الاحی او طفل نُوری د روحونو، ملائکو او لطائفو نه هم اعلیٰ (Special) مخلوق دے.
د [پنځه ديرش] کاله په عمر کښې د پنځلسمې روژې 1976 کښې يو د نُور نطفه په قلب کښې داخله کړے شوه، څه لږ وخت پس د تعليم او تربيت دپاره په زينو بيلابيلو مقاماتو بلنه راکړے شوه۔ په پنځلسمه روژه 1985 کښې هغه په دنياوي ډيوټئ په حيدر اباد کښې لګيدلے وو، هغې نُوری نطفې د طفل نُوری حيثيت اختيار کړو او په مکمله توګه راته هوا له کړے شو، چې د هغې په زريعه يې راته په دربار رسالت کښې د سلطانئ تاج په سر کړو.
طفل نُوری ته د [دولس] کالو نه پس مرتبه عطاء کيږي خو د دنياوي ډيوټئ د وجې نه دا مرتبه په [نهه] کاله کښې عطاء شوه.

## د جشنِ شاهي د لمانځلو وجوهات

**په پنځلسمه روژه 1977 کښې د الله د اړخه د خاص الهامونو سلسله شروع شوه د راضيه مرضيه وعده وشوه، مرتبه هم ارشاد شوي وه.**

**ځکه چې د هر معراج تعلق د پنځلسمې روژې سره دے همدې دپاره په دی ورځ په دی خوشحالی کښې جشن شاهي لمانځل کيږي.**

په 1978 کښې حيدر اباد ته راغلم د رشد او هدايت سلسله مو روانه کړه په کتو کتو کښې دا سلسله په پوره دنيا کښې خوره شوه. د لکونو خلکو قلوب په الله الله کښې ولګيدل. د لکونو خلکو په قلوب باندې د الله نوم نقش شو او دوي ته په نظر هم راغلے۔ په لکونو خلک کشف القبور او کشف الحضور پورې ورسيده، په لکونو لا علاجه بيماران شفاياب شوه.
د هر مزهب د هر قوم د هر نسل خلک د حضرت ګوهر شاهي نه رشد او هدايت حاصل کړو او د الله د محبت او د ذاته پورې يې رسيدل شورو شو۔ په خداي مې دي قسم وي چې زه هم په دی خلکو کښې يم چې د چا په زړونو په ښکلي خط ليکلے شوے د الله نوم ځلېږي.
(از شيخ نظام الدين ...... ميری لينډ، امريکه)

# په سپوږمۍ او لمر باندې د عکسونو په اړه مکمله تشریح

## د ګوهر شاهي روحاني تعلیم او ځای پر ځای د خطابونو په زریعه په ټوله دنیا کښې مشهور او زړه ته نزدې شو۔

